# ساز او سرود د اسلام ا وطب له نظره





Ketabton.com

**کتاب نوم** : ساز او سرود د اسلام او طب له نظره

**ترتیب کوونکی** : محمد بشیر مدنی

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ساز او سرود د اسلام ا وطب له نظره

(c) ketabton.com: The Digital Library

ساز او سرود د اسلام ا وطب له نظره



(c) ketabton.com: The Digital Library



دکتاب ځانګړتیاوی :

دکتاب نوم :ساز او سرود د اسلام او طب له نظره

ترتیب کوونکی : محمد بشیر مدنی

دچاپ شمیر : 1000 جلد .

چاپځی : کابل

چاپ نوبت : دوهم

کال: 1402

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اهداء

ددغه اثردوهم چاپ دخپلو والدینو روحونو او دخپل مشر ورور مرحــوم استاد ملنګ علمیار اوټولوهغوشهیدانو روحونوته ډالی کـــوم چی داسلام څخه ددفاع په خاطریی قربان کړی روحونه یی دی ښاد ،یاد یی دتل، او اخروی لاره یی د روښانه وی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ساز او سرود د اسلام ا وطب له نظره

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دمطالبو فهرست

سریزه ........................................................................................................ 1

د ساز او سرود د حرام والي په هکله قرآني دلایل:......................................................... 3

د ساز او سرود دحرام والي په هکله دنبوي احادیثو دلیلونه: ........................................... 7

دساز او سرود په اړه د علماء کرامو څرګندونې : ........................................................ 12

په اسلام کې د فاسق حکم دادی:............................................................................ 14

استثناء (ځانګړتیا ):........................................................................................ 17

امام ابن حزم ( رح ) او دسندرو روا والي : ................................................................ 19

د اسلامي ترانو او شعرونو د ویلو حکم:................................................................. 21

د ساز اوسرود دوهمه برخه:.................................................. ERROR! BOOKMARK NOT DEFINED.

په دنیوي ژوند کښي د ساز اوسرود ځینی اغیزي:........................................................ 24

دنبوي سیرت په غونډوکي سازاوسرود: ................................................................... 25

*آیا واقعا سازاوسرود دروح غذا او دوصال سبب دي:* .................................................... 26

سندري او نشه يي توکي...................................................................................... 27

ساز اوسرود دطب له نظره: .................................................................................. 28

پدي اړه باید پاملرنه وشي چي :............................................................................. 28

دذهني او عصبي مرضونو په تداوي کښي دساز او سرود رول: ........................................ 29

(c) ketabton.com: The Digital Library



دساز اوسرود مهم او خطرناك تاثيرات اواغيزي : ........ 29

ساز او سرود دزړه دسكتې اوتكان سبب كيږي: ........ 30

ساز اوسرود دوينې دفشارسبب كيږي: ........ 30

ساز او سرود دارادې دسستوالي لامل دی: ........ 31

*ساز اوسرود دسستی اوكسالت لامل دی:* ........ 31

ساز اوسرود دفكري ركود اوتاريكۍ لامل دي: ........ 31

*سازاوسرود دقضاوت دتوان له منځه ورلولامل دی:* ........ 31

*سازاوسرود دباصرې (ليدنې) حس له منځه وړي:* ........ 32

*سازاوسرود داخلاقي فساد اوهلاكت لامل دی :* ........ 32

سازاوسرودداحساساتو اوعواطفو دمنځه وړونكی: ........ 33

دساز اوسرود ډيربداثرات دانسان په وجودكې: ........ 33

يو مهم ګواښ: ........ 34

تجربه اواعترافونه: ........ 34

موسيقي داستعماردكاري وسائلو څخه ده: ........ 36

ځوانان دفساد اوفتنې په ډنډكښې: ........ 36

الف: تحريكوونكي سازاوسرود : ........ 36

ج: دساعت تيري غونډې اومجلسونه : ........ 38

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ساز او سرود د اسلام ا وطب له نظره

## سریزه

الحمدلله وکفی والصلاة والسلام علی نبیه المصطفی وآله المستکملین الشرفاء و صحابته الاتقیاء وبعد:

مسلمانانو د اسلام ترسیوري لاندې په قدر اوعزت سره ژوندتېراوه، دعبادت مزه یې په څرګندډول احساسوله، ددې دین په درشل کې دایمان خونددیقین ډاډ او اطمئنان، دطاعت مینه او ددې مبارك دین لارښوونوې د بې لارۍ او فساد غوښتنې په مقابل کې دیوکلك دیوال او نه ماتیدونکي سنګر حیثیت څانته خپل کړی وه، چې انسان له بدیو اوګناهونو څخه وساتي، د نفسي غوښتنو منلو څخه یې ژغوري اوتول غمونه او خپګانونه یې له منځه وړی ، ددې خوندورو حالاتو په لیدوسره د اسلام دښمنان په آرام کېنه ناستل، بلکې د مسلمانانو پر ضدېې نوې توطیې پیل کړې، چې د هغوله جملې څخه په نوې بڼه دساز او سرود خپرول وو. ساز کوونکو ته یې د هنر مندانو نوم ورکول ، البته زمونږ شتمن او بډای هیواد وال په دې ډګر کې ډیر وړاندې دي، خپلو شتو او مال ته مغروردي، خو په حقیقت کې لوی مالدار او پانګوال هغه څوك دی، چې دالله پاك له دین سره یې دوستي وکړه، که څه هم په دنیا یې لحاظ فقیر وي، خو ډیرزیات فقیر او مفلس هغه څوك دی، چې دالله جل جلاله له دین سره یې دښمني وکړه، که په دنیا یې لحاظ سره مالدار هم وي.

د یو غیرتي مسلمان لپاره ډیر د خپګان او افسوس ځای دی، چې ګوري ځینې مسلمانان خپله نیکبختي او خوښي په نورو دینونو کې لټوي، حال دا چې دغه خوشحالي یوازې په اسلام کې ده اوبس.

همدارنګه زهر ددوا پر ځای استعمالوي، روغتیا او جوړښت په نفسي غوښتنو او شهوتونوکې لټوي او له دوی څخه نن ورځ داسې ډیرخلك شته، چې خپل پام یې دسندرو، ساعت تیریو او د سازو سامان آلاتو ته اړولی دی. تردي، چې دایې خپل مصروفیت او دنده ګرځولې ده، او ددې د خپرولو لپاره یې خپل لاسونه رابیډوهلي، چې د شهوت پرستۍ ساز او سرود په اوریدلو سره مبتلاشوي او په باطله لارروان شوي دي . خوددې کار د رواوالي

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ساز او سرود د اسلام ا وطب له نظره

لپاره یې داسې خوشي اوبې ځایه دلایل، باطل اقوال او ویناوې خپل حجت او دلیل ګرځولي، چې هیڅ یو یې هم صحت نه لري .

ځینې خلك داسې هم دي، چې د ساز اوسرود د خپرولو لپاره لامل دا ښيي، چې په دې ناروا عمل سره زړونه نرمیږي، احساس ویښیږي، عاطفې ته نمو او وده ورکوي!!! مګردادلیل سم او پرځای نه دی، بلکې دغه کارنفساني شهوات او ناروا غوښتنې را ولاړوي، که چیرې ددوی خبره رښتیا وای، نو د سندر غاړو زړونه به نرم وای او د ښو اخلاقو څښتنان به وو، مګر بالعکس ټول یې په کږه لاره روان، د بدواوناوړه اخلاقو لرونکي دي .

اې د الله جل جلاله بندګانو! که څوك د ساز اوسرود په حرام والي شك لري، نو داشك او شبهه دې لرې کړي، دالله جل جلاله په کتاب او د پیغمبر صلی الله علیه وسلم په سنتودې یقین او باور وکړي، چې دا کار ناروا او حرام دی، په قرآن کریم او نبوي احادیثو کې یې زیات زیانونه په ګوته شوي دي، په دې اړه د قرآن کریم او حدیثو زیات نصوص او څرګندونې شته، چې د سندرو په حرام والي ښکاره دلیل دی، څوك، چې دا کار روا بولي او یایې په روا والي او دغه کارته په دوام ورکولو ټینګارکوي، د الهي عذاب خبرداری ورکړل شوی دی، د مؤمن مسلمان لپاره د قرآن کریم او صحیحو احادیثو څخه یو دلیل هم کافي دی، سره ددې، چې په دې موضوع کې زیات دلایل موجود دي. په یقیني ډول الله جل جلاله په خپل سپیڅلي کتاب کې فرمایلي دي (وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ وَلَا مُؤْمِنَةٍ إِذَا قَضَى اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَمْرًا أَنْ يَكُونَ لَهُمُ الْخِيَرَةُ مِنْ أَمْرِهِمْ وَمَنْ يَعْصِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ فَقَدْ ضَلَّ ضَلَالًا مُبِينًا [الأحزاب/36]

ژباړه:او نه دی روا هیڅ مؤمن سړي او نه هیڅ مومنې ښځې ته، کله چې حکم وکړي الله او د الله رسول، په یو امر( کار)کې دا چې وي دوی ته اختیار له امره (کاره) خپله په خلاف د امردالله او درسول هېڅ، او هر څوك، چې اطاعت نه کوي دالله او ددغه رسول د الله، پس په تحقیق سره ګمراه شو په ګمراهۍ ښکاره سره .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ساز او سرود د اسلام ا وطب له نظره

دسازاو سرود خطر د شریعت ا و طب له نظره ، چې دا د خلکو په منځ کې، په ځانګړي ډول دځوانانو په منځ کې د فساد او فتنې له لاملونو څخه دي، نو ماوغوښتل، چې په دې لیکنه کې د ساز او سرود په هکله د قرآن کریم، نبوي احادیثو ،علماء کرامو او طبی ماهرینو دریځونه وړاندې کړم، له دې څخه زما یوازنی موخه دالله جل جلاله ددین خدمت ا و د مسلمانانو لپاره ګټه رسول دي او بس.

له الله جل جلاله څخه غواړم، چې په خپل فضل اوکرم سره دا لیکنه ګټوره ثابته کړي او د خپلې رضا لپاره يې وګرځوي، همدغه الله جل جلاله زموږ لپاره بس او ډیر ښه وکیل دی .، په پای کی باید ووایم چې دغه کتاب می په دوه فصلونو کې لیکلی : لومړی فصل ساز او سرود د اسلام له نظره ، دوهم فصل ساز او سرود د طب له ، ، همدارنګه سریزه ، آخری پایله ، د محتواياتو او اخځلیکونو فهارس می هم ورته برابر کړی دی ، تر څو لوستونکو ته ګټور ثابت شی .

د غنااو مزامیرو تعریف :

غنا سندرو ته وايي چې : درواغو،فحشآء او عشق بازئ ته جذب او نور لهو لعب پکې وي او مزامیر د موسیقی آلاتو ته وايي .

**د موسیقی تعریف**: موسیقی یو یونانی لفظ دی چی ښه اواز لرونکو آلاتو ته وایی لکه (سیتار، ډول، تنبور، غجک، سورنی، رباب، دیراه، شپیلی،اوداسی نور

## د ساز او سرود د حرام والي په هکله قرآني دلایل:

الله جل جلاله فرمايلي دي (وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَشْتَرِي لَهْوَ الْحَدِيثِ لِيُضِلَّ عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ وَيَتَّخِذَهَا هُزُوًا أُولَئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ مُهِينٌ [القمان/6]

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه : (او ځيني له خلكو څخه هغه څوك دي، چې پيري ( اخلي ) عبثي او بيهوده خبرې لپاره ددې، چې وښويوي (خلك) له لارې دالله جل جلاله نه، بې عمله په عاقبت د خپل فعل، او چې ونيسي (دالاره ياآياتونه ) په ټوكومسخرو، دغه (كسان) شته دوى ته عذاب سپكوونكى)

حضرت عبدالله بن عباس رضى الله عنه، چې يو جليل القدر صحابي دى وايي :

(لهو الحديث) سندرو ته وايي، مجاهد رحمت الله عليه وايي (لهو) :ډول (طبل ) ته وايي دغه قول يې په تفسير طبر ي كې راوړى، حسن بصري رحمة الله عليه وايي: دغه ايت د ساز او سرود په هكله نازل شوى دى، په دې اړه تفسير ابن كثير وګورئ .

ابن قيم رحمة الله عليه وايي: داخبره كفايت كوي، چې صحابه وو رضى الله عنهم او تابعينو د(لهو الحديث) معنى په سندرو سره كړې ده. دا تفسير د حضرت عبدالله بن عباس او ابن مسعود رضى الله عنهما څخه په صحيح سند روايت شو ى دى .

ابو الصهباء رحمت الله عليه وويل: ما د الله پاك ج ددې فرمان په هكله ( ومن الناس من يشترى لهو الحديث ) دعبدالله بن مسعو د رضى الله عنه څخه پوښتنه وكړه، نو هغه مبارك وويل: زما دې په هغه ذات قسم وي، چې پرته له ده څخه بل حق معبود(الله) نشته د(لهو الحديث) څخه مطلب سندرې دي، داخبره يې درې ځله تكرار كړه، همدا ډول دحضرت عبدالله بن عمر رضى الله عنه څخه داخبره ثابته ده، چې د (لهو الحديث) معنى سندرې دي، په دې اړه د اغاثةاللفها ن كتاب وګورئ .[1]

[1] –پدى اړه اغاثة اللهفان د امام ابن القيم كتاب وګورى .

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدارنګه ددې مبارك آیت په تفسیر کې لاندې علماء کرامو هم همداسې څرګندونې کړې، لکه جابر رض، عکرمه رض، سعید بن جبیررض، مکحول، میمون بن مهران، عمرو بن شعیب، علی بن بدیمه رحمهم الله او داسې نور .

امام واحدي رحمه الله وایي: دغه آیت په دې تفسیر سره د سندرو په حرام والي دلالت کوي، په دې اړه اغاثه اللهفان کتاب وګورئ .

بې شکه امام حاکم په خپل مستدرك على الصحیحین کې د صحابي د تفسیر په اړه ویلي: ددې علم ښتنان باید پوه شي، چې د صحابي تفسیر څکه دامام بخاري او امام مسلم په اند مسند حدیث بلل کیږي،چې دوحی راتلل او د قرآن کریم نازلیدل یې لیدلي دي او امام ابن قیم رحمه الله په خپل کتاب اغاثة اللهفان کې دامام حاکم رحمه الله په دې خبره زیاتوالی کړی او ویلي یې دي، چې دامام حاکم ( رح ) په خبره کې که څه هم باید تامل او فکر وشي، خوبې له شکه دا تفسیر د وروستنیو خلکو له تفسیره ډیر غوره دی، چې باید ومنل شي او قبول کړی شي، څکه صحابه کرام د قرآن کریم په مطلب په دې امت کې ترټولو ښه پوه دي، قرآن کریم ددوی په وخت کې نازل شوی او دوی ددې امت لومړني خلك دي، چې همدې سپېڅلي کتاب ورته خطاب کړی دی، په یقیني ډول یې له پیغمبر صلى الله علیه وسلم څخه په علمي او عملي ډګر کې ددې تفسیر لیدلی دی او بې له شکه دوی فصیح عربان وو، نو ددې لاملونو په مو جودیت کې ددوی له تفسیر څخه بل لوري ته اوښتون ناشوني دي .

الله جل جلاله فرمایلي دي: ( وَاسْتَفْزِزْ مَنِ اسْتَطَعْتَ مِنْهُمْ بِصَوْتِكَ وَأَجْلِبْ عَلَيْهِمْ بِخَيْلِكَ وَرَجِلِكَ وَشَارِكْهُمْ فِي الْأَمْوَالِ وَالْأَوْلَادِ وَعِدْهُمْ وَمَا يَعِدُهُمُ الشَّيْطَانُ إِلَّا غُرُورًا [الإسراء/ 64] [2]

---

[2] -اسراء سورت ۶۴ آیت .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ساز او سرود د اسلام ا وطب له نظره

ژباړه: او وخوځوه هغه څوك، چې طاقت درسيږي په هرهغه باندې له دوى نه په غږ خپله سره ( فسادته ) او راكاږه ( راټول كړه ګمراهۍ ته ) پردوى سپاره خپل او پياده خپل، شريك شه له دوى سره په مالونو كې او په اولادونو كې او وعده كوه له دوى سره (ددروغو) او نه كوي وعده له دوى سره شيطان، مګر( په) فكر باطل ( او فريب سره چې خطا ورته ثواب ښكاروي ).

په جلالين كې د (استفزاز) معنى په (استخف) سره راغلې يعنې (صوتك ) ستا په بلنه او دعوت، چې په ساز او سرود سره ده او بلنه دګناه هر بلونكي ته هم ده، همدارنګه دا تفسير ابن كثير او طبري له امام مجاهد څخه نقل كړى دى، همدا ډول امام قرطبي ددې مبارك آيت د تفسير په اړه ويلي دي: په دې آيت كې هغه څه دي، چې د ساز او سرود حرام والى ثابتوي او همدارنګه د شيطان غږ د هغه عمل او كړنه او كوم څيز، چې شيطان ته د خوښۍ وړوي او پرې خوشحاله كيږي، ددې ډول څيزونو څخه ځان ساتل په هرچا لازم او ضروري دي.

الله جل جلاله فرمايلي دي : (وَالَّذِينَ لَا يَشْهَدُونَ الزُّورَ وَإِذَا مَرُّوا بِاللَّغْوِ مَرُّوا كِرَامًا [الفرقان/72][3]

ژباړه :او(بندګان دالله ) هغه كسان دي، چې نه حاضريږي نه شامليږي په باطلو كې ( يانه وايي شاهدي په دروغو ) او كله چې تيريږي پرچټې ( بيكاره ) كارونو، نو تيريږي ځان ساتونكي ( مخ ګرځوونكي له هغوى نه )

حافظ ابن كثير په خپل تفسير كې دمحمد بن حنيفيه رحمه الله قول راوړى، چې ويلي يې دي: (زور) لفظ دسندرو په معنى سره دى، اما م قرطبي په خپلو تفسيرونو كې له مجاهد رحمه الله عليه څخه دالله جل جلاله ددې قول په هكله چې فرمايي : والذين لايشهدون الزور) داسې وايي : يعنې سندرې نه اوري.

امام طبري رحمه الله په خپل تفسير كې وايي: اصل (زور) لفظ د يو شي ښايسته كولو ته وايي او د يو څيز د خپل څرنګوالي او صفت برعكس انځورول او ښودل دي، تردې چې ځنې وخت د حق اوريښتنولۍ ګومان پرې

---

[3] – الفرقان سورت ۷۲ آيت

(c) ketabton.com: The Digital Library



وشي او په حقيقت کې دا باطل وي او په دې کې سندرې هم شامليږي، ځکه سندر غاړي خپل غږ جګوي او ښکته کوي يې او ښايست ورکوي تردې، چې له اوريدونکي څخه يې د خوند اخيستلو هيله پيداکوي. په دې اړه داامام طبري تفسير وګورئ.

د الله جل جلاله په دې قول کې (وَإِذَا مَرُّوا بِاللَّغْوِ مَرُّوا كِرَامًا ) امام طبري په خپل تفسير کې ويلي دي: کله، چې په باطل مجلس تيريږئ کوم نارواشی ترې وويئ اويايې واورئ، په عزت ترې تيريږئ، په داسې ډول، چې اوريدل يې نه غواړئ لکه ساز اوسرود.

## د ساز او سرود دحرام والي په هکله دنبوي احاديثو دليلونه:

د موسيقى ټول آلات حرام دي بغير له دف يا چمبه او يا دائره څخه هغه هم د ښځو د پاره د خاصو شرايطو په چوکات کې په نکاح کې چې د خاصو شرايطو په نظر کی نيولو سره وی .

او همدارنګه په اختر کې د وړو نجونو سندرې د غيرت او شهامت د تشويق د پاره ، نه د فحشاء ، يارئ ، عشق بازئ د جذب د پاره له ځنګه چې تاسې اشاره ورته کړی ده هغه حديث شريف په لاندې ډول دی :

عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ الله عَنْهَا قَالَتْ: دَخَلَ عَلَيَّ رَسُولُ الله صلى الله عليه وسلم وَعِنْدِي جَارِيَتَانِ، تُغَنِّيَانِ بِغِنَاءِ بُعَاثَ، فَاضْطَجَعَ عَلَى الْفِرَاشِ وَحَوَّلَ وَجْهَهُ، وَدَخَلَ أَبُو بَكْرٍ فَانْتَهَرَنِي، وَقَالَ: مِزْمَارَةُ الشَّيْطَانِ عِنْدَ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم ؟ فَأَقْبَلَ عَلَيْهِ رَسُولُ الله صلى الله عليه وسلم فَقَالَ: «دَعْهُمَا». فَلَمَّا غَفَلَ غَمَزْتُهُمَا فَخَرَجَتَا. (بخارى:949)[4]

ژباړه : ام المومنين عايشه رضى الله عنها وايي : (د اختر په ورځ ) دوو وړو نجونو زمونږ په کور کې د بعاث د جګړی سندرې ويلې چې دا مهال جناب رسول الله صلى الله عليه وسلم راغی او د آرام د پاره خپل استراحت ځای ته لاړ او مبارکه چهره يې تغير کړه .څو لحظې وروسته ابوبکر رضى الله عنه کور ته راغی او ددې صحنې په ليدلو يې

-صحيح البخارى ٩٤٩ نمبر حديث شريف .[4]

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه سرزنش کړمه او وېې فرمایل : د پیعمبر په کور کې د شیطان آواز ؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم ابوبکر ته مخ واړولو او یې فرمایل : هغوی پر خپل حال پرېږده . عایشه رضی الله عنها وایي : وروسته له دې چې ابوبکر رضی الله عنه په بل کار مشغول شو ، ما په اشاره سره هغوی ته وویل چې ځئ لاړې شئ . او هغوی لاړې .

نو اوس تاسې وواياست چې پورته حدیث شریف د نئ بې شرمه او فاحشې موسیقۍ چې زمونږ د ځوان نسل د اخلاقي ، علمي او اقتصادي زوال سبب شوی ده د جواز او رواوالی دلیل جوړیدای شي ؟ نه هیڅکله هم نه .

حتي کوم صو فيان چې د نعت ذکر وغيره لپاره د موسیقۍ آلات کاروي حرام دي هندیه یې په اړه لیکي :

السماع وقول و رقص الذی یفعله المتصوفة فی زماننا حرام لایجوز القصد الیه والجلوس علیه وهو الغناء والمزامیر سواء .

كَذَا فِي التَّتَارْخَانِيَّة قال رَحِمَهُ اللَّهُ تَعَالَى السَّمَاعُ وَالْقَوْلُ وَالرَّقْصُ الذي يَفْعَلُهُ الْمُتَصَوِّفَةُ في زَمَانِنَا حَرَامٌ لَا يَجُوزُ الْقَصْدُ إلَيْهِ وَالْجُلُوسُ عليه وهو وَالْغِنَاءُ وَالْمَزَامِيرُ سَوَاءٌ (فتاوی هندیه 351/5 ) .[5]

الله تعالی خو په هر څه عالم او ښه خبردار دی

په دې کې شک نشته چې ځنې کسان موسيقي روا بولی ځکه د دا ډول کسانو په اړه رسول الله صلی الله علیه وسلم له پخوا څخه وړاندیز کړي دی او فرمایي :

لیکونن من أمتي أقوام یستحلون الحرو الحریر والخمر والمعازف ...............

ژباړه : پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمايلي دي: خامخا به زما له امت څخه داسې ډلې وي، چې زنا کول، دورېښمو جامې اغوستل، شراب څښل، د موسیقۍ په آلاتو لوبې کول حلال ګڼي او خامخا به ځینې ډلې په لوړ غره اوړي او یو شپون به یې ګډې (پسونه ) څروي او د بیګاه له پلوه به یې راولي او دوی ته به کوم فقیر او

---

– فتاوی هندیه ج ۶ ص ۳۶۱ د زیات معلومات لپاره آن لاین اسلامی لارښود وګورئ . [5]

(c) ketabton.com: The Digital Library



محتاج د څه ضرورت د پوره كولو لپاره راځي، نو داخلك به ورته وايي، اوس لاړ شه سباته به راشې، نو د شپې به په دوی عذاب راشي او ټول به هلاك شي او غربه پرې را واوړي او كوم خلك، چې ژوندي پاتې شي، هغوی به الله جل جلاله د بیزوګانو او خنځیرانو په څیر وګرځوي او مسخ به يې كړي، چې تر قيامته به د همدوی په شان پاتې شي.[6]

مشهورو محدثينو ددې حديث په صحيح والي مهر لګولی دی او صحيح يې بللی دی لكه امام ابن حبان ( رح ) اسماعيلي ( رح ) ، ابن صلاح ( رح ) ، ابن حجر ( رح ) ، ابن تيميه رح، طحاوي رحمه الله، ابن قيم رحمه الله، صنعاني رحمه الله او داسې نو رو.

اما م ابن القيم رحمه الله عليه ويلي دي: چاچې ددې حديث په ضعيف والي (نه صحت) دڅه ويلو خبره كړې، لكه امام ابن حزم رحمه الله غواړي د ساز او سرود په هكله خپل باطل مذهب صحيح وښيي او دده په ګومان سره داحديث منقطع دی، ځكه امام بخاري رحمه الله په موصول سند سره نه دی روايت كړی، مګر امام ابن صلاح رحمه الله ويلي دي: په دې اړه بايدامام ابن حزم رحمه الله ته هيڅ ونه كتل شي، ځكه دحديث د ردولو خطاء ډير لاملونه لري، خو حديث صحيح دی د صحت په شرط يې اتصال معلوم دی. په دې اړه داامام سفاريني ( رح ) كتاب :[7] غذاء الالباب شرح منظومه الآداب وګورئ.

په حديث شريف كې د ساز اوسرود دحرام والي دليلونه له دوه پلوه څيړل شوي دي او دوو لوريوته يې حرام والی څرګندد ی .

---

۲- دا حديث شر يف امام بخاري په ۵۵۹۰ نمبر معلق روايت كړی دی او امام طبري او امام بيهقي وصل كړی دی، په دې اړه سلسله صحيحه د الباني ۹۱ نمبروګورئ .

–غذاء الالباب شرح منظومة الآداب وګوری . [7]

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لومړی:** د پغمبر صلی الله علیه وسلم د حدیث لفظ (یستحلون ) په دې کې دا تړول یاد شوي څیزونه، چې ساز او سرود هم پکې دي، په اسلامي شریعت کې حرام دي، نو دغه خلك يې حلال ګڼي .

**دوهم:** ساز او سرود د هغو څیزونو سره یو ځای کول، چې حرام دي، لکه زنا، د شرابو څښل، د ناړینه وو لپاره دوریښمو جامو اغو ستل، په خپله په حرام والي دلالت کوي، که داسې نه وای، نو د حرامو څیزونو سره به یو ځای نه یادیدل. په دې اړه شیخ الباني په سلسله صحیحه ۱۴۱-۱۴۰-۱ مخونه وګورئ.[8]

شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله علیه ویلي دي: دغه حدیث شریف دساز او سرود په حرام والي دلالت کوي او دمعازف لفظ دعربي ژبې دعلماو په وړاندې د ساز او سرود په ټولو ډولونو دلالت کوي. مجموع الفتاوی کتاب وګورئ .[9]

امام ترمذي په خپل سنن کې روایت کړی، چې جابر رضی الله عنه ویلي دي: پیغمبر صلی الله علیه وسلم له حضرت عبدالرحمن بن عوف سره د خرماوو باغ ته لاړ، په دې وخت کې د پیغمبر صلی الله علیه وسلم زوی حضرت ابراهیم د مرګ په حالت کې و، پیغمبر صلی الله علیه وسلم ابراهیم په خپله غیږ کې ونیو او سترګې مبارکې يې له اوښکو راډکې شوې، حضرت عبدالرحمن رض ورته وویل: ته ژاړې او موږ له ژړا نه منع کوئ؟ پیغمبر صلی الله علیه وسلم وفرمایل: زه له ژړا څخه څوك نه منع کوم، بلکې د هغو دوه ډوله بیکاره او بدو غږونو او چیغو څخه يې منع کوم، چې یو د ساز او شپیلی سره دسندرې آواز، او بل د غم په وخت کې چیغې وهل، د مخونو شکول دګریوان څیرول، او کو کارې وهل دي .

اما م ترمذي ویلي دي، دا حدیث حسن دی او شیخ الباني هم حسن ګڼلی صحیح الجامع نمبر ۵۱۹۴ وګورئ.[10]

---

– سلسلة الاحادیث الصحیحة ص ۱۴۰-۱۴۱.[8]

– مجموع الفتاوی د شیخ الاسلام ابن تیمیه لیکنه . [9]

– صحیح الجامع ۵۱۹۴نمبر حدیث شریف .[10]

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ساز او سرود د اسلام ا وطب له نظره

پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: په دوه ډوله آواز لعنت ويل شوی او دالله ج له رحمت څخه لرې دي، يو دسندرې غږ ، بل دغم په وخت کې په آه او افسوس چيغې وهل.[11] د حديث اسناد حسن دي .

له پيغمبر صلی الله عليه وسلم څخه روايت دی، چې فرمايلي يې دي: خامخا به زما په امت کې په ځمکه کې ډوبيدل د اسمان له لوري په ډبرو او ياکوم بل څيز ويشتل د شکلو نو بدليدل (مسخ کيدل ) به پيښيږي دا په هغه وخت کې منځ ته راځي، چې خلك شراب وڅښي، سندرغاړو ته پام واړوي او ډولونه ووهي (مطلب دا، چې ساز او سرود خپور کړي) دا حديث د اسنادو په مجموع سره صحيح دی، [12]سلسله صحيحه ۲۲۰۳ نمبر وګورئ .

پيغمبر صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: ( الله جل جلاله زما په امت د شرابو څښل، قمار وهل په ځانګړې ډول د جوارو او اربشو شراب څښل، ډول وهل، رباب غږ ول حرام کړي او دوترو لمونځ يې راته زيا ت کړی دی ) دا حديث صحيح دی، [13]صحيح الجامع ۱۷۰۸ نمبر وګورئ .

دحديث په متن کې (کوبه ) ډول ته وايي (قنين ) په حبشي ژبه کې طنبور ته ويل کيږ ي، چې د رباب په څير وي غذاء الالباب وګورئ .

امام ابو داود (رح) په خپل سنن ابو داود کې له نافع رحمه الله څخه روايت کړی دی، ده وويل: حضرت عبد الله بن عمر رضی الله عنه د شپيلی غږ واوريده بيايې په خپلو غوږونو کې ګوتې ونيولې او له لارې څخه لرې شو او ماته يې وويل: اې نافع ايا څه شی اورې؟ نافع ( رح ) وايي ماورته وويل: نه، نافع ( رح ) وويل: حضرت عبد الله رض د خپلو غوږونو څخه ګوتې پورته کړې او ويې ويل : زه د پيغمبر صلی الله عليه وسلم سره وم او داسې

---

- سلسله صحيحه ۴۲۷ نمبر وګورئ .-[11]

– سلسله احاديث صحيحه ۲۲۰۳ نمبر حديث .[12]

– صحيح الجامع ۱۷۰۸ نمبر حديث شريف . [13]

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ساز او سرود د اسلام ا وطب له نظره

څه يې واوريدل او بيايې همداسې کاروکړ ( يعنې په غوږونو کې يې ګوتې ونيولې ) دا حديث صحيح دی، [14]سنن ابي داود ۴۱۱۶ نمبر، او مجموع الفتاوي ( ۳۰) ټوك ۲۱۲ مخ وګورئ.

امام قرطبي ( رح ) په دې حديث باندې داسې زياتوالی کړی، زموږ علماء کرامو ويلي دي، که چيرې ددوی کړنه دداسې غږ په اړوند، چې داعتدال څخه هم نه دی وتلی داسې وي، نو څه ډول به ددوی عکس العمل داوسني وخت د ساز او سرود په هکله وه.

په دې اړه جامع القرآن تفسير وګورئ.

## دساز او سرود په اړه د علماء کرامو څرګندونې :

امام عمر بن عبدالعزيز رضی الله عنه ويلي دي، چې د سندرو ويلو پيلامه له شيطان څخه ده، چې پای يې بيا دالله جل جلاله قهر او غصه ده. غذاء الالباب وګورئ .

دساز او سرود اوريدلو په حرام والي زياتو علماء کرامو اجماع نقل کړې ده، چې له دوی څخه امام قرطبي رح، ابن صلاح ( رح ) ، او ابن رجب حنبلي ( رح ) د بېلګې په ډول يادولی شو.

امام ابو العباس قرطبي ( رح ) ويلي دي، سندرې ويل په قرآن او حديثو سره منع دي او همدارنګه يې ويلي دي، شپيلی، رباب او ډول (دموسيقی ټولو آلاتو) ته دغوږ نيولو په حرام والي کې هېڅ ډول اختلاف نه لري، ما له هيڅ يو مخکيني يا وروستني امام څخه چاته، چې د علم په برخه کې ګوته نيول کيږ ي، د حلال والي نه دي اوريدلي، څنګه به ساز او سرود حرام نه وي !!!!!!، دا د شراب څښونکو او فاسقانو نښې دي او په همدې پيژندل کيږي، د فساد، شهواتو اوبې حيايی علامې دي . کوم شی چې دا ډول صفت او څرنګوالی ولري په حرام

---

[14] – سنن ابي داود ۴۱۱۶ نمبر، او مجموع الفتاوي ( ۳۰) ټوك ۲۱۲ مخ وګورئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



والي كې يې شك نشته او هېڅوك به يې دكوونكي په فسق او ګناه كې شك او تردد ونه كړي [15]( الزواجرعن اقتراف الكبائر ) كتاب وګورئ .

اما م ابن صلاح ويلي دي، چې د ساز او سرود په حرام والي اجماع شوې، له هرچا څخه چې داجماع داهليت لرونكې وي دساز او سرود دروا والي او ياهم له اجماع سره د مخالفت خبره نه ده ثابته شوې، قاسم بن محمدرحمه الله ويلي دي، چې ساز اوسرود باطل او ناروا دي باطل شی به ضرور جهنم ته ځي .

حسن بصري رحمه الله ويلي دي: كه چيرې په كوم واده كې ساز او سرود وي، نو د هغه د بلنې قبلول نشته جامع قيرواني وګورئ .

امام نحاس (رح ) ويلي دي: ساز او سرود په قران كريم او نبوي احاديثو سره منع شوي دي .

امام طبري (رح ) ويلي دي: ټولو علماو د ساز او سرود په بدوالي او د هغه په منع كيدلو او نه كولو اتفاق كړی دی، امام اوزاعي رحمه الله وايي: هغه واده ته مه ورځه او ګډون مه پكې كوه، چې په هغه كې ډول، ساز او سرود وي.

ابن قيم دامام ابو حنيفه رحمه الله د مذهب په بيانولو كې ويلي دي: دامام ابو حنيفه رحمه الله تعالی ملګرو د ساز او سرود ټولو څيزونو ته غوږ ايښودل حرام بللي دي، لكه شپيلی، ډول او آن تردې، چې رباب غږول يې هم حرام بللي دي او دايې په څرګندډول بيان كړي، چې دا ګناه ده، كوونكی يې فاسق ګڼل كيږي اوګواهي يې رد كيږي او له دې څخه مهمه خبره لا داده، چې ويلي يې دي: د ساز ا و سندرو اوريدل فسق او خوند ترې اخستل كفر دي. په دې هكله يو حديث راغلی، چې مرفوع نه دی.

[15] – الزواجرعن اقتراف الكبائر ) كتاب وګورئ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ساز او سرود د اسلام ا وطب له نظره

داامام ابوحنيفه ( رح ) ملګرو ويلي: که چيرې يو څوك د ساز تر څنګ تيريدو، نو پرې واجب دي، چې بايد ډيره هڅه وکړي ترڅو يې غوږونو ته ونه رسيږي (اغاثة اللهفان ) کتاب وګورئ.

له امام ابو حنيفه رحمه الله څخه روايت دی، چې ويلي يې دي: ساز او سرود دهغو لويو ګناهونو څخه دی، چې بايد سمدلاسه پريښودل شي، امام سفاريني ( رح ) په خپل کتاب، غذاء الالباب کې داامام ابوحنيفه رحمه الله د مذهب په هکله ويلي دي:امام ابو حنيفه ( رح ) ساز اوسرود بدګڼي او ګناه يې بولي، همدا ډول د کوفې داامامانو لکه: سفيان( رح )، حماد(رح )، ابراهيم(رح)، شعبي( رح) او داسې نورهم دا ډول نظر لري.

دساز او سرود د حراموالي په هکله ددوی په منځ کې هيڅ اختلاف نشته، همدا رنګه د بصرې خلك ساز او سرود منع کوي او په دې کې هيڅ اختلاف نه لري، بې شکه داامام ابوحنيفه (رح) شاګرد قاضي ابو يوسف رح د هغه چاپه اړه وپوښتل شو، چې د يو کور له منځه يې د شپيلۍ او موسيقۍ غږ واوريد(څه به کوي) ؟ نو ده وويل: دغه کور ته پرته له اجازې ور د ننه شه، ځکه د منکر منع کول فرض دي.

امام مالك رحمه الله د ساز او سرود او د هغه له اوريدلو څخه منع کړې ده، کله، چې داامام مالك (رح) څخه دسندرغاړي او ډول وهونکي په هکله پوښتنه وشوه، ده وويل: اياکوم عاقل هم دا وايي، چې سندرې صحيح دي؟

بلکې زموږ فاسقان او بدکاره خلك داکار کوي، تفسير قرطبي وګورئ.

### په اسلام کې د فاسق حکم دادی:

شاهدي يې نه قبليږي، کله، چې مړشي نيکان خلك يې جنازه نه کوي، بلکې بې علمه او لااوبالي خلك يې جنازه کوي، امام ابن قيم (رح) د امام شافعي رحمه الله دمذهب بيان دارنګه واضح کړی دی.

داامام شافعي رحمه الله هغه ملګري، چې داامام په مذهب او لاره ورته معلومه ده په څرګندو ټکوکې د ساز او سرود حراموالی بيانوي او په هغه چاباندې، چې سرود حلال ګڼل ورته منسوب شوي، سخت انتقاد کړی او

(c) ketabton.com: The Digital Library



بدیې پرې ویلې، لکه قاضي ابوطیب طبري(رح)، شیخ ابو اسحاق ( رح ) او ابن صباغ (رح) . په دې اړه اغاثة اللفهان وګورې .

دساز او سرود په اړه امام شافعي رحمه الله وپوښتل شوهغه وویل : د لومړي ځل لپاره د زندیقانو له پلوه په عراق کې دود او رواج شو ترڅو خلك دالله پاك د ذکر او لمانځه څخه وګرځوي.[16]په دې اړه الزواجر عن اقتراف الکبائر، او مجموع الفتاوی ۳۰ ټوك او ۲۱۲ مخ وګورئ.

ابن قیم رحمه الله ویلې دي: دامام احمد رحمه الله دمذهب په اړه عبدالله بن احمد دارنګه وضاحت کړی : مامې د خپل پلار ( امام احمد) څخه دسندرو د حکم په اړه وپوښتل نو هغه راته وویل: سندرې په زړه کښې نفاق زرغونوي، زما نه خوښیږي، بیا یې دامام مالك رحمه الله قول ذکر کړ، چې ویلي یې دي : دا کار زموږ فاسقان او بدکار خلك کوي. اغاثة اللفهان کتاب وګورئ .

امام احمد( رح) د هغه چا په هکله وپوښتل شو، چې مړشو، یو زوی او یوه سندر غاړې وینځه ترې پاتې شول او دا یتیم ماشوم دوینځې خرڅلاوته اړ شو، امام احمد( رح) وویل: وینځه دې دبې عقلی له امله وپلورل شي، نه دسندرو ویلو له امله، نو ورته وویل شول، چې دادیرش زره روپۍ قیمت لري، ښایي که د بې عقلی له امله وپلورل شي، نو بیا یې قیمت شل زره روپۍ کیږي، نو امام احمد(رح) وویل:دا وینځه د بې عقلی له امله خرڅیږي، امام ابن جوزي رحمه الله تعالی وویل: داپه دې دلیل، چې سندرې ویل منع دي، که داسې نه وایي، نو د یتیم هلك مال ضایع کول روانه وو.

الجامع لاحکام القرآن وګورئ.

16– الزواجر عن اقتراف الکبائر، او مجموع الفتاوی ۳۰ توك او ۲۱۲ مخ وګورئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ساز او سرود د اسلام ا وطب له نظره

امام احمد(رح) دساز او سرود د آلاتو لکه، رباب او داسې نورو په هکله په واضح ډول سره ویلي دي، چې که دا آلات ښکاره ولیدل شي او د ماتولو امکان یې وي، باید مات کړل شي.

شیخ الاسلام احمد بن عبد الحلیم حراني رحمة الله علیه ویلي، څلور واړه مذهبونه وایي، چې د ساز او سرود آلات ټول حرام دي، ددې مذهبونو هېڅ یو پیرو ددې آلاتو په حرام والي کې اختلاف نه دی ذکر کړی. مجموع الفتاوی وګورئ.

همدارنګه یې ویلي دي، په دې پوه شه، چې دا ساز او سرود ددریو غوره او بهتره پېړیو دزور او قوت په درشل کې نه په حجاز، شام، یمن، مصر، مغرب، عراق، او خراسان کې ښکاره شوی دی او نه هم پد موده کی نیك، دینداره متقیان عابدان خلك دچکچکو او چیغو سره یوځای د ډول او رباب لپاره را غونډېدل، بلکې دا کار ددوهمې پیړی په ورستیو وختو کې رواج شو او کله، چې امامانو ولیده، بدېې وباله او خلك یې ترې منع کول. مجموع الفتاوی وګورئ .

په بل ځای کې یې ویلي: سندرې د بدو نفسونو شراب دي په نفسونو باندې هغه لوبه کوي ، چې د پیالو د لومړني غړپ څخه هم لوړه او او چته ده. مجموع الفتاوی وګورئ .

شیخ الاسلام دهغه چا په هکله، چې ساز او سندرو ته غوږ ږدي او اوریدل یې عادت شوي وي، داسې ویلي دي، چې څوك سندرې اوري داسې یې تراغیزې لاندې راشي، چې غږونه یې ویریدلي، بې حرکته چوپ او زړونه یې هغه لوري ته ور اوښتي وي. مجموع الفتاوی وګورئ. شیخ الباني رحمة الله علیه ویلي دي: څلور واړه مذهبونه د ساز او سرود د ټولو آلاتو په حرام والي متفق دي. [17]سلسله صحیحه ۱/۱۴۵.

---

– سلسلة احادیث صحیحة ج ۱ ص [17]۱۴۵

(c) ketabton.com: The Digital Library



امام ابن قيم رحمه الله وېلي دي: ته به داسې څوك ومومې، چې ساز او سرود ته زياته پاملرنه كوي، مګر په هغه كې د هدايت اوسېې لارې څخه په علمي او عملي ډګر كې كوږ والی موجود وي، د قرآن كريم داوريدولو څخه به يې د ساز او سرود اوريدلوته ډير زړه كيږي .

په بل ځای كې يې دسندرو په هكله وېلي دي: دغه ساز او سرود د زنا لپاره زينه ده او د شيطان شريكول او د عقلونو پټول او هغوی ته تغيير وركول دي، د قرآن كريم څخه د بل باطل او بېهوده څيز په پرتله بندوونكي او مخ اړونكي دي، ځكه نفسونه ساز اوسرود ته زيات ميلان لري او هغه يې خوښيږي .

ابن قيم (رح) وېلي: دقرآن كريم مينه او دسندرو غږونه د يو بنده په زړه كې نه يوځای كېږي، زما د په الله جل جلاله قسم وي، چې د چا ساز او سرود عادت وي، نو دالله جل جلاله سره به د شريك نيولو څخه ونه ژغورل شي، نو كله، چې يو څوك په ساز او سرود پورې ونښلي او خپل عادت يې وګرځوي، نو د هر چا غلام ترې جوړكړي، په همدې ډول موږ ته داامامانو او علماؤ كرامو څركندونې معلومې شوې، چې دساز او سرود دحراموالي او له هغه څخه په منع كيدلوېې بيان كړی دی.

## استثناء (ځانګړتيا):

د ساز له آلاتو څخه ددريا د شرنګانيو څخه پرته په اخترونو او د نكاح په مراسمو كې د ښځو لپاره رواه ده، چې استعمال يې كېږي، په دې باندې صحيح دليلونه موجود دي .

شيخ الاسلام ابن تيميه رحمه الله وېلي دي، مګر پيغمبر صلی الله عليه وسلم په ودونو او د خو شحاليو په نورو پروګرامونو كې ځينې دساعت تيري لوبې روابللې، چې له هغو څخه يو په ودونو او خوشحاليو كې د ښځو لپاره دريا وهل دي، مګر په هغه وخت كې له نارينه و څخه يوهم داسې نه وه، چې يابه يې دريا وهله او يا به يې لاسونه پړكول او چكچكې به يې وهلې، بلكې په صحيح حديث شريف كې دا ثابته ده، چې پيغمبر صلی الله عليه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وسلم فرمایلي دي، چکچکې د ښځو لپاره او تسبیح د نارینه و لپاره ده، په هغوښځو یې لعنت ویلی، چې ځانونه له نارینه و سره یو شانته کوي او په هغه نارینه و یې هم لعنت ویلی، چې ځانونه له ښځو سره مشابه او یو ډول کوي .مجموع الفتاوی وګورئ.

همدارنګه له حضرت عایشې رضی الله تعالی عنها څخه حدیث روایت شوی، چې ویلي یې دي: حضرت ابوبکر رضی الله عنه زمونږ کره راغی او زما سره دوه انصارې نجونې وې، کومې سندرې، چې انصارو د بعاث په جګړه کې ویلې وې، هغه یې زمزمه کولې، حضرت عا یشه رضی الله عنها وایي: دغه دواړه نجونې سندرغاړې نه وې، حضرت ابوبکر(رض) وویل: ایا د پیغمبر صلی الله علیه وسلم په کور کې هم دشیطان شپیلی غږیږي، یعنې سندرې ویل کیږي. په دې ورځ کوچنی اختروه ، نو پیغمبر صلی الله علیه وسلم وفرمایل: اې ابوبکره، د هر قوم لپاره اختروي او دغه زمونږ اختردی. داحدیث صحیح دی. [18]سنن ابن ماجه ۱۵۴۰ نمبر وګورئ اودغه راز، مجموع الفتاوی ۳۰ ټوک ۲۱۶ مخ وګورئ.

دا په هغه چا رد دې، چې ددواړو نجونو په دې کړنه او عمل یې د ساز او سرود په روا والي دلیل نیولی. ابن قیم رحمه الله ویلي دي: دحیرانتیا خبره داده، چې تاسو ددوو ماشومو نجونو په سندرو، چې د بلې ماشومې نجلی عایشې رضی الله عنها په وړاندې په یادشوي شکل سره یې ویلې دسندرو په روا والي استدلال کوي او دا هم داختریه ورځ دهغه عربي شعرونو تکرارول وو، چې د زړورتیا، جګړو، ښو اخلاقو او نیکو خویونو په هکله ویل شوې وه، نو په هغه باندې نه شي دلیل کیدای، بلکې دا حدیث شریف په اصل کې په همدوی دلیل دی، ځکه حضرت ابوبکر رضی الله عنه دغه کار ته د شیطان شپیلی وویله، پیغمبر صلی الله علیه وسلم داخبره واوریده او رد یې نه کړه او دغو دوو ماشومو نجونو ته یې د ویلواو له هغوی څخه داوریدلو اجازه وکړه، ایا دغه کار

---

– سنن ابن ماجه ۱۵۴۰ نمبر وګورئ اودغه راز، مجموع الفتاوی ۳۰ ټوک ۲۱۶ مخ وګورئ.[18]

(c) ketabton.com: The Digital Library



دهغه څه دلیل کیدی شي، چې تاسې يې کوئ او په هغه ښه پوه یاست، چې هرناروا عمل پکې وي او هر څوك يې اوري ؟

سبحان الله عقلونه او ذهنونه څنګه ګمراه شول. په دې اړه مدارج السالکین وګورئ.

ابن جوزی رحمه الله ویلي دي: حضرت عایشه رض په دې وخت کې ماشومه وه، له بلوغ څخه ورسته هېڅ له دې څخه د سندرو په هکله پرته له بد ګڼلو بل څه نه دي نقل کړي، قاسم بن محمد ( رح ) د حضرت عایشې رضی الله عنه وراره و، او له همد ې څخه یې علم حاصل کړی، هغه سندرې بدې ګڼلې او له اوریدلو څخه یې ممانعت کاوه، په دې اړه [19]تلبیس ابلیس کتاب وګورئ.

## امام ابن حزم ( رح ) او دسندرو روا والي :

مشهوره او معلومه خبره داده، چې امام ابن حزم ( رح ) سندرې روا بللې، لکه څنګه يې، چې په خپل کتاب المحلي کې هم ذکر کړي دي، مګر هغه څه، چې غواړو بایدخلك په دې وپوهوو، چې کله د امام ابن حزم ( رح ) یاکوم بل عالم په اړه واورئ، چې سندرې روا بولي، نو ذهنونوته يې دغه ورځني ساز اوسرود راشي کوم، چې په ټلویزوني چینلونو، راډیوګانو هوټلونو او کانسرتونو کې موجود دي، نو دا ډیره لویه خطا ده، ځکه دا ډول ساز اوسرود هیڅ مسلمان روانه بولي، داسې يولوی عالم خو په ځای پریږده، لکه امام ابن حزم (رح) غوندې، نو ټول علماء کرام دهغه سندرواو ساز په حرام والي سره متفق دي، چې فحشاء، فسق او یا ګناه ته انسا ن کشوي او تشویق کوي يې، موږ د نن ورځې ساز اوسرودوینو، چې څومره ثابت حرام څیزونه پکې منځ ته راځي، د ښځو لوڅ او بربنډ حالت دښځو او نارینه و ګډ بې حیا ګډون او اختلاط، د زنا اوبې لارۍ خواته ښکاره بلنه، د شرابو څښل، په داسې حال کې، چې سندرغاړې لوڅه او یالوڅې ته ورته د مرضي زړونو د بې حیا اووچو سترګو په وړاندې په داسې ډول د مینې او محبت بابولالې وایي، چې احساس او خیال يې په عقل خپلې منګولې

[19] - تلبس ابلیس کتاب وګوری .

(c) ketabton.com: The Digital Library



نښلولې وي او ټول کتونکي، ښځې او نارینه کاره واره یو په بل ځانونه وراچوي دالله جل جلاله په قهر او نافرمانی کې اخته خپلې غوښې وهي له همدې امله وایو: څوك، چې په خلکو کې دامام ابن حزم (رح) دسندرو دحلال والي خبره خپروي، په دې د پوه شي، چې پرته له کوم قيد اوشرط څخه په ټولنه کې ددې خبر ي خپرول څه تاثير لري، او اغيزې يې څه دي؟ نو دالله جل جلاله څخه ووېرېږئ، او په دې پوه شئ، چې ددې کار پايله څه ده؟ او بايد خپل ځان د الله جل جلاله په پاکه او سپېڅلې لاره برابرکړئ، بيا د په دې پوه شي، چې که دکوم شي په اړه امام ابن حزم (رح) اوياکوم بل څوك دحلال والي وايي او د پيغمبر صلی الله عليه وسلم څخه په څرګند ډول د حرام والي امر راځي، نو تاته د الله جل جلاله په وړاندې د پيغمبر صلی الله عليه وسلم څخه پرته د بل چا امر منل کومه ګټه نه شي رسولی .

سليمان تيمي رحمه الله ويلي دي: که د دهر عالم اجازه او رخصت په يوه مساله کې ومانه يا د دهر عالم د خطا پيروي او تقليد وکړ، نو په تاکې ټول شر اوبدي راغونډ شول .

بې له شکه، الله جل جلاله فرمايلي دي: (وَمَا آتَاكُمُ الرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَاكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوا [الحشر/7][20]

ژباړه : او هغه څه چې درکړې دي تاسې ته رسول (دالله ) نو وايې خلئ، ويې نيسئ، قبول يې کړئ او له هغه څه نه، چې منع کړي يئ، (رسول الله ) تاسې، له هغه څخه بيرته شئ ( مه يې غواړئ )

او همدارنګه الله جل جلاله فرمايلي دي: (فَلْيَحْذَرِ الَّذِينَ يُخَالِفُونَ عَنْ أَمْرِهِ أَنْ تُصِيبَهُمْ فِتْنَةٌ أَوْ يُصِيبَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ [النور/63] [21]

ژباړه: پس ودويريږي هغه کسان، چې مخالفت کوي له امره (حکمه ) ددغه (رسول زما) له دې نه، چې ورسيږي دوی ته څه فتنه ( آفت په دنيا کې ) يا ورسيږي دوی ته عذاب درد ناك په اخرت کې .

---

– الحشر سورت ۷ آيت شريف .[20]

– نور سورت ۶۳ أيت . [21]

(c) ketabton.com: The Digital Library



څومره ښه یې ویلي دي: علم هغه دی، چې الله جل جلاله ویلي وي او د هغه د رسول صلی الله علیه وسلم څخه ثابت شوی وي، بل دامت اجماع ده هڅه اوهاند پکې وکړه او له دې څخه وویریږه، چې د یو فقیه د نظر او د پیغمبر صلی الله علیه وسلم ترمنځ په ناپوهۍ سره اختلاف منځ ته راوړي .

## د اسلامي ترانو او شعرونو د ویلو حکم:

دهغو اسلامي ترانو اوشعرونو حکم، چې د ساز او موسیقۍ له آلاتو سره مل نه وي په لاندې ډول دي:

د پیغمبر صلی الله علیه وسلم او د هغه د اصحابو کرامو رضی الله عنهم څخه دا ثابته ده، چې شعر یې اوریدلی، په خپله یې ویلی او د بل څخه یې دویلو غوښتنه کړې ده، داکار یې په سفرونو، کورونو، مجلسونو (بنډارونو ) او ټولو مصروفیتونو کې په انفرادي ( یوازیتوب) کې ترسره کړی، لکه حسان بن ثابت رض، عامر بن اکوع رض، او انجشه رضی الله عنهم چې په یوازیتوب سره او هم په ټولنیز ډول یې هم کړی، چې د خندق په غزا کې د کندې دکیندلو په برخه کې له حضرت انس رضی الله عنه څخه داسې حدیث روایت شوی، چې ویلي یې دي: کله، چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم ولیدل، چې موږ دډیرې سختې لوږې او تکلیف سره مخامخ یو، ویې فرمایل: اې الله ج دا ژوندپرته د اخرت له ژوند څخه کوم ارزښت نه لري، ته مهاجرینو او انصارو ته ښښه وکړه، صحابه کرامو په ځواب کې وویل: موږ هغه خلك یو، چې له محمد صلی الله علیه وسلم سره مو په جهاد کولو ترهغه پورې بیعت کړی دی، ترڅو، چې ژوندي یو.[22] داحدیث بخاري په ۳-۱۰۴۳ مخ کې روایت کړی دی .

اوهمدارنګه اسلامي ترانې او شعرونه په غونډو او محفلونو کې ویل هم روا دي: ابن ابي شیبه (رح) په حسن سند سره د ابو سلمه بن عبدالرحمن رض څخه روایت کړی، هغه ویلي دي: صحابه کرامو د شعرونو له ویلو څخه مخونه نه وو اړولي او نه کمزوري او ضعیف وو، په خپلو غونډو کې به یې شعرونه ویل، د جاهلیت

– صحیح البخاری ج ۳ ص ۱۰۴۳ . [22]

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ساز او سرود د اسلام ا وطب له نظره

کارونه به یې بدګڼل، خو کله به، چې له دوی څخه ددین په هکله څه وغوښتل شول (پوښتنه به په دیني مساله کې تري وشوه ) نو دویرې له امله به یې دستړګو سپین او تور سره ګډ شول ( ډیر احتیاط به یې کاوه ) [23]مصنف ابن ابي شبیه 8 ټوك 711مخ, دغه د لیلونه دشعرویلو روا والي ثابتوي، اګر که دا شعر د یوکس له خوا وي او یاهم د ترانې په څیر وویل شي، په داورو حالتو کې روا دي.

په نري ښایسته او لوړ غږ سره شعر ویلو ته ترانه وايي. قاموس محیط.

**دترانې ویلو لپاره ځینې قاعدې شته**، چې علماو راته ټاکلې او هغه دادي چې:

١ – د ترانې ویلو په وخت کې باید د ساز له حرامو آلاتو څخه کار وانه خیستل شي.

٢ - باید دومره زیات ونه ویل شي، چې د یو مسلمان عادت وګرځي او په هر وخت کې پرې مصروف وي، چې ددې له امله یې فرضونه او واجبات ضایع او له منځه لاړشي.

٣ - داترانې دښځو په اواز ونه ویل شي.

۴ - په دې ترانو کې باید بد او حرام الفاظ استعمال نه شي.

۵ - باید د بې حیا او فاسقو خلکو له غږ سره ورته والی ونه لري.

۶ - باید دیته پام وشي، چې د ترانې دویونکې داسې غږ نه وي، چې اوریدونکی په فتنه کې اچوي او په حرکت یې راولي، لکه څوك، چې سندرې او ساز اوري.

ددې موضوع په اړه د زیاتو معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره لاندې کتابونه وګورئ.

١- الاعلام بنقد الحلال والحرام دصالح فوزان لیکنه .

٢- السماع د امام ابن قیم (رح ) لیکنه .

---

– منصنف ابن ابی شیبه ج ٨ ص ٧١١ . [23]

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ساز او سرود د اسلام ا وطب له نظره

٣ – تحریر آلات طرب د شیخ الباني لیکنه:

په پای کې اما م ابن قیم په خپل کتاب اغاثة اللفهان کې ویلي : په دې پوه شه، چې دسندرو لپاره ځینې خاصیتونه او ځانګړتیاوې شته، چې د هغې په اثر په زړه کې نفاق پیداکیږي اوپرې رنګیږي او داسې زرغون کیږي، لکه په اوبوسره، چې واښه زرغونیږي.

**له خاصیتونو څخه یې:**

دانسان زړه غافل او مصروفوي، دقرآن کریم د پوهې او په هغه کې د فکر کولو او په هغه د عمل کولو څخه یې بندوي، ځکه سندرې او قرآن کریم په زړه کې هیڅکله هم نه سره یو ځای کیږي، ځکه قرآن کریم انسان د نفسي غوښتنو له قبلولو منع کوي، په عفت او پاکوالي امر ورته کوي، د نفس دغوښتنو، د ګمراهۍ دلاملونو او اسبابو څخه یې لرې کوي، د شیطان له پیروۍ څخه یې منع کوي، خو ساز او سندرې په دغو ټولو دعمل کولو امرورته کوي او ښایسته یې ورته انځوروي، نفسونه یې په حرکت راولي ترڅو د ګمراهۍ لار غوره کړي، داخلي احساسات یې راپاروي او تکلیف ورکوي ترڅو، چې دهرې بدې په لور یې په حرکت راولي، چې په پای کې د روغ او رښتیا سره یوځای کړي، یوه ښکلې خبره ترې راوباسي، نو سندرې او شراب د یوشي غبرګوني ملګری دی، بې حیایې او بدیو ته د رسیدو لپاره د یوه جیلب جوړه آسونه دي .

**اې مسلمانانو!** خپل ځانونه او غوږونه له ساز او سرود څخه پاك وساتئ، د جنت په باغونو یې خو ندور اوخوشحاله کړئ، دقرآن کریم په حلقوکې ګډون وکړئ، د پیغمبر صلی الله علیه وسلم دخوږو احادیثو له زده کړې څخه ګټه واخلئ، ځکه ددې زده کړه له ګمراهۍ څخه لارښوونه، د سترګو رڼایي, تقوی او پرهیزګارۍ ته تشویق او هڅونه، د زړه ژوند یتوب ، د نفسي غوښتنو څخه لرې والی، چې دا په خپل ذات او اصلیت کې درملنه او رغونه ده . دالله پاك له عذاب څخه ژغورنه او دلیل دی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو باید د هغو خلکو ملګري وکړئ او ځانونه ورسره یوځای کړئ، چې الله پاك یې په اړه فرمایلي (وَالَّذِينَ هُمْ عَنِ اللَّغْوِ مُعْرِضُونَ [المؤمنون/3] .[24]

ژباړه : اوهغه(کسان هم بهرمن شول ) چې دوی له ناکاره ( بدو اقوالو اوافعالو )څخه مخ ګرځوونکي دي .

له الله جل جلاله څخه غواړم، چې مسلمانانو ته، په خپلو کارونو کې د پوهې له سمبالتیا سره جوخت، په خپل دین دثابت او کلك پاتې کیدلو توان ورکړي، بې شکه الله جل جلاله خپلوبندګانوته ډیر نږدې او توبه قبلوونکی ذات دی. [25]

# دوهم فصل :

## په دنیوي ژوند کښي د ساز اوسرود ځینی اغیزي:

د موسیقي دنیوي اضرار:
اوس په نړی کې موسیقي د مخدره موادو په حیث پیژندل شوې ځکه هغه کسان چې له موسیقي سره عادت شوی د هغوی ټول فکر د موسیقی په هکله وی او د دوی په اعصابو باندي یو ډول سستي حاکمه وي او بیا دا خلك غیر له شهوت، عشق بازی، ښکلا پرستی نه نور څه نه پیژني او د دوی عقل د موسیقي په واسطه داسې محا صره شوی وی چې بیا دوی له عفت او حیا، عدالت او انصاف، وروروَلی او غیرت څخه خلا صیږي[26].

۱- دغم او مصیبت څخه په امان نه پاتي کیدل.

---

[24] – المومنون سورت ۳ آیت .

[25] - د لومړی فصل زیات معلومات می د این رجب السلفی له کتاب ساز و سرود از دیدگاه اسلام څخه اخستی دی .

[26] -آن لاین اسلامی لارښود وګوری .

(c) ketabton.com: The Digital Library



٢- ددعا نه قبلیدل.

٣- په هغه مجلس یا محفل کي چي ساز او سرود په کښي وي د پرښتو نه داخیلیدل.

۴.دنفاق سبب جوړیدل – دساز او سروددډیرو ترخو اغیزوڅخه یوهم دخلکو په منځ کي دمنافقت او دوه مخي صفت پیداکیدل.

۵- دزنا سبب جوړیدل .

۶- دخپل ناموس په اړه بي توپیره پاتي کیدل.

٧- دالله جل جلاله درحمت څخه محرومیدل.

٨- دشیطان پرستش کول.

٩- دکورڅخه دخیر اوبرکت ختمیدل.

١٠- دتش لاسی اومسکیني باعث کیدل.

١١- دزړه سختوالي.

١٢- موسیقي د اخلاقي فساد مهم عامل دی. [27]

## دنبوي سیرت په غونډوکي سازاوسرود:

پیغمبر صلي الله علیه وسلم فرمایلي دي: زه دساز اوسرود د آلاتو دله منځه وړلوپه خاطر رالیږل شوي یم.

نن ورځ کوم محفلونه اوغونډي چي دپیغمبرصلي الله علیه وسلم دتوصیف اوتجلیل په خاطرجوړیږي اوکوم شعرونه او نعتونه چي په کښي ویل کیږي په هغي کي ډیر په زوراو ځوړ سره ساز اوسرود هم ویل کیږي چي دنوروترانو او دپیغمبر صلي الله علیه وسلم دنعت تر منځ کوم ځانګري توپیر نلري آیا ددي څخه زیات دپیغمبر صلي الله علیه وسلم په سیرت نوري ملنډي هم شته؟ ښځي اوناړینه ډلي ډلي په رادیو اوتلویزیون کي نعتونه وائي ښځي په بشپړ سینګار سره دتلویزیون په پرده راځي پداسي حال کي چي الله جل جلاله دښځي په اړه په قرآن کریم کي فرمایلي دي : (وَلَا تَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ الْجَاهِلِيَّةِ الْأُولَى [الأحزاب/33]

ژباړه : او تاسو پخپلو کورونو کي قرار ونیسی او تاســو د لومړنی جاهلیت د زینت په شان زینت مه ښکاره کـوی .

ددي سره سره چي نبوي سنت تریښولاندي کیږي دپیغمبرصلي الله علیه وسلم دښکلي سیرت مخالفت کوی بیاهم ددي طمع او هیله لري چي دالله جل جلاله رحمتونه به پري نازل شي، ددي څخه به دځمکي پرمخ لویه غلطي نوي ځکه چي دغه ډول ناروا کارونه دالله جل جلاله عذاب او عتاب ته دعوت اوبلنه ده ([28]).

---

- نن تکی آسیا ، اصلاح آنلاین و کوری .[27]

28 - دمحمد تقي عثماني داصلاحي اوتربیتي خطبوڅخه.[28]

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ساز او سرود د اسلام ا وطب له نظره

*آیا واقعا سازاوسرود دروح غذا او دوصال سبب دي:*

سازاوسرود دوصال سبب ندي بلکي په انسان کي دوصال خیال تحریکوي ، یواځني کارچي ساز اوسرود يي سرته رسوي دادي چي : دخیال او فکر څخه تیریږي دشکل او څیری جوړښت ته رسیږي ، موږ نه پوهیږو که چیري خلکو. په ځانګړي ډول زموږ دګران هیواد ساده لوهو وګړو. سازاو سرود ته پدي بي حده پیمانه مخه نه واي کړي او واقعیتونوته يي نظر کړي واي څومره زیات به يي دترقي او پرمختګ لاروهلي واي .

باید دغه مهم ټکي ته وګورو چي: داصحيح ده چي د ساز اوسرود کوم خوځښت چي په انسان کي منځ ته راځي موږ دخپل حقیقي موجودیت څخه پورته کوي مګر کله چي ساز اوسرود ختم شي پخپل ځان کي یو حقیقي خوځښت احساسوو او وینو چي ساز اوسرود دیو سوري شکل ځانته نیولي وه او هغه دمنځه لاړ، مګر واقعیتونه په هغه پیمانه سره پاتي شول، که چیري دساز اوسرود دعاشقانو خبره رښتيا وي چي سازاوسرود انساني روح تصفیه کوي نوبيا ولي په شرق اوغرب کي کومي ذهني او رواني مریضي ،اخلاقي فساد چي منځته راغلي ،خبري کول دشرم ځاي دي؟

ددي څخه چي تیرشو ځیني وايي : چي هره ترانه (لهو) بي ګټي نده بلکي دهغي حکم دهغه شخص ترنیت پوري تړلي دي.

ښه نیت د نیږدیوالي سبب او مزاح داطاعت سبب ګرځي .

دغه ټکي هم دتوجه وړدي چي : یوه سندره پخپله اوهم څه چي په کښي دي لهو او باطل دي ،ځکه هغه تراني چي ویونکي يي پداسي ډول سره وايي چي خپل غږته ترنم ورکوي اویا قصداً اوریدونکي تحریکوي – لکه دکابل دهوټلونو ،موټرونو ساز او سرود چي د ډیرلوړغږپه سبب روغ شخص مریضوي زیات خبث خو يي لادا چي ځیني ښځینه سورلي موټروان ته دبکس څخه فیته ورکوي ،په ځانګړي توګه دطورخم او کابل پدي اوږده لاره،دکابل مزار،اوکابل تخاردلاري په اړه خوځه ویل عقل تغیروي، دتلویزیون خباثت خوپخپل ځاي پریږده چي په هندي اوایراني سریالونو يي خلك دهر کاروبارڅخه ویستل-اوپدي سندروسره غواړي چي ویده غرائزرا بیدارکړي مرضي زړونوته فریب اودوکه ورکړي.

ددي وضاحت څخه وروسته هراوریدونکی کولي شي پخپله مفتي اوفقیه شي که چیري داسي سازاوسرود ته غوږ ایږدي چي نفسي غوښتني يي راپاروي اوپه فتنه کي يي اچوي اوبي ګټي فکرونوته يي بيايي او حیواني غوښتني يي پر روحاني غوښتنو راجګوي نوپه ده لازم دي چي له اوریدو څخه يي ځان لیري کړي او دهغه لوري څخه چي دده دین، زړه او روح ته يي دفتني باد راځي ځان وساتي.

په حدیث شریف کي راغلي دي چي هوښیارانسان خپل وخت ددي څیزونو څخه پرته په بل څه کي نه لګوي:

۱- دخپل ژوندلپاره کوښښ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲- دآخرت لپاره تياري.

۳- دحلالوکارونو څخه خونداخستل .

نوله همدي کبله بايد خپل وختونه په عادلانه توګه د دغه دريو څيزونو ترمنځ وويشو اوپدي باندي بايد وپوهيږو چي الله جل جلاله دهر انسان څخه دهغه دعمر په باره کي پوښتنه کوي لکه څنګه چي په حديث شريف کښي راغلي چي په څه ډول دهغه تير کړ اوهمدا ډول دځواني په هکله پوښتنه تري کيږي چي په کومه لاره کي دمصرف کړه.

## سندري او نشه يي توکي :

دهغو څيزونو څخه چي ډيرزيات دځوانانو ذهنونه نشه کوي ،اوپخپل ذات کي دايوه نشه ئي ماده ده او هغه سازاوسرود دي دا دهغو څيزونو څخه دي چي هرڅوك پخپله طبع تري خوند اخلي مګر ددي ترڅنګ انسان دجديت څخه راباسي اوبې هدفه شخص تري جوړوي ،کوم ځوان چي زياتره وخت يي په ساز او سرود سره تيريږي اوپه همدي سره بلد وي هغه شخص په ټوليز ډول د ژوندانه دکارونو دټولنيزو اوسياسي چارو څخه غافل اوناخبره وي په همدي ډول کوم انسان چي په نشه يي توکو عادت وي نشي کولی چي يوجدي اوبا تصميمه شخص تري جوړشي ترڅو وکولاي شي چي په سياسي مسائلو کي فکراوسوچ وکړي .

ساز او سرود دانسان فکرداسي جوړوي چي په بل څه کي دفکر کولوجوګه نه وي .

دسازسرود او نشه يي توکو ترمنځ تړاو پدي ډول سره بيانووچي: سازاوسرود په ټوليز ډول دنشه يي توکو په رديف کي قرار لري ځکه چي دنشي داغيزو څخه په هيڅ ډول انکارنشي کيدي ،بلکي نشه پخپله ډولونه لري انسان کولاي شي چي خپل اعصاب په مختلفو لارو سره نشه کړي کله د**الکولو**په خوړولوسره ،او کله دهروئينو ګرد ،دپوزي له لاري په کش کولو سره ،اوکله دترزيق کولو په وسيله ،اوکله هم دانشه دغوږو له لاري ترسره کيږي.

ساز اوسرود اوکنسرت ته غوږ نيول داوريدونکي په اعصابو دنشه يي توکو په څير اغيزي کوي کله دومره سخت تاثير پري کوي چي انسان ديو بي احساسه شخص غوندي دخپل طبيعي حالت څخه راباسي او دهرڅيز څخه يي توجه اوفکر په بشپړډول راګرځوي .

دغه ټکي رښتيا کيږي چي ساز اوسرود دنشه يي توکو ټول عيبونه اوضررونه په ځان کی لري هغه فوق العاده تاثير چي ددي په وسيله منځته راځي همدا نشه ده کله دا اغيزي دومره قوي وي چي انسان خپل عقل اوهوش دلاسه ورکوي اوپه غيرعادي حرکاتولاس پوري کوي آيا ددي څخه به اوچته نشه هم وي !

کله چي انسان دساز اوسرود دنغمي تراغيز لاندي راشي په اعصابو يي يو ډول سستي او نرموالي منځته راځي دانساني مفاهيمو څخه پرته دشهوانيت ،عشق بازي، ښکلتيا نه نورڅه ددي بي عقل په نظر نه راځي پداسي

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ساز او سرود د اسلام ا وطب له نظره

ډول يي داحساس او قوت مخ پوښلي وي چي ددي سپيڅلو معناوو لکه ترحم ،ځوانمردي ،عفت ، حيا ، امانت ، برابروالى ،ورورګلوي ،لوړتيا، کوښښ ،هڅي ، مقابله ، دخپل هدف په لار کي استقامت ، داتولې دهيريدو په باد لاهوکړي .

يوعالم وايي: سازاو سرود داعصابو په نشه کولو کي دنشه يي توکو څخه هم زيات اغيزلري .

### ساز اوسرود دطب له نظره:

يو دهغه عمده او اساسي واقعيتونو څخه چي تراوسه پوري يي حقيقت دډير وپوهانو اومحقيقينو څخه پټ وه ،خو دعلمي پرمختګ له برکته دهغه څرنګوالي ښکاره شو او پوهانو پدي اعتراف وکړچي : ساز اوسرود ډير زيانمن اثاراو اغيزي لري چي دعصبي سلسلي پرمخ پيداشوي او دسازاوسرود په اوريدوکي افراط اوزيات والي ډيرذهني اورواني مرضونه منځته راوړي دي.

دايوه ښکاره خبره ده چي په لومړي سرکي ساز اوسرود يوډول کشش او خوند لري چي دانسان دروح تل ته رسيږي او اوريدونکي دخپل ځان څخه بي خبره کوي .

ايا داسي څوك به هم وي چي دساز اوسرود دا بد او ناروا عمل به بد ونه بولي خوهلته ځيني داسي خلك هم شته چي داساحرانه خوندورو سندروپرې اغيزکړي او دهغه په ملاتړراولاړشوي اودهغه ارزښت يي دښايسته هنرونو په لست کي راوستي .

ځيني داسي خلك هم شته چي دسازاوسرود دتاوان اوضرر په اړه څه ويل کيږي دکوم فکر او دقت څخه پرته دا ښکاره کوي اووا يي چي :اوس په ځيني هيوادونو کي عصبي او روحي مريضان په سازاوسرودسره تداوي کيږي ،اودسرود ځيني آراموونکو آلاتوته ځيني ډاکترانو داوريدو توصيه کړي .

### پدي اړه بايد پاملرنه وشي چي :

لومړی : دغه مطلب ترکومي اندازي تبليغاتي او تشريفاتي اړخ لري ، تبليغاتي اړخ يي لاپريږده خو دنړي په کوم يو علمي مرکز کي دساز اوسرود په وسيله ليونيان او روحي مريضان تداوي شوي او په هر کال کي دهغي مثبته نتيجه ددومره ډيرو روحي مريضانو په انډول څومره ده؟

دوهم: زياتره ډاکتران پخپله هم پدي عقيده دي چي په ساز سره د مريضانو درملنه ډيره کمزوري ده لکه چي ( اسکريل ) ليکي : زه پدي اعتراف کوم چي دساز اوسرود په وسيله تداوي ناکامه ده او يوه اندازه وخت هم پري ضائع کيږي .

دريم: دتجربي له اړخه ددي موضوع په هکله کوم قاطع دليل نشته پرته له هغه دسترګو دليدلو حالاتو څخه چي په غربي هيوادونو کي د رواني او ذهني مريضانو شمير ورځ په ورځ زياتيږي اوهمدارنګه دنړي لويو طبي

(c) ketabton.com: The Digital Library



مرکزونو دا اعلان کړي چي : دساز او سرود ترټولو مهم اثر داعصابو کمزورتيا اوپه ذهني مرضونو اخته کيدل دي.

## دذهني او عصبي مرضونو په تداوي کښي دساز او سرود رول:

دساز او سرود زيانونه دطب له نظره ډيزيات دي مګر وړاندي ترهغه چي دسازاوسرود دډيروبدواغيزو په تفصيل سره په څيړني پيل وکړم بايد دغه ټکي ته پاملرنه وکړو چي دفيزيولوژي برخي پوهانو دانسان اعصاب په دوه برخو ويشلي :

١- سمپاتيك اونباتي اعصاب:

نباتي اعصاب په دوه ډوله دي : سمپاتيك، پاراسمپاتيك. په بدن کي دسمپاتيکو اعصابو وظيفه داده چي : درګونو تنګوالي، دصافوغړو انقباض ( ) دويني دفشار دترشح اوکموالي ايجاديدل .

دنباتي اعصابو دغه دوه ډولونه (سمپاتيك،پاراسمپاتيك) چي په بدن کي يودبل مخالف اعمال سرته رسوي ترڅو چي دبهر څخه پرهغوي خوځښتونه اوتحرکات نوي راغلي دبدن نظم اوتعادل ساتي مګرکله چي دبهرنيو خوځښتونو په اثر ددغه دواړو عصبي سلسلوتعادل له منځه لاړشي بدن ته زيات شمير جسمي اوعصبي زيانونه منځته راړوي .

يودډيرومهموبهرنيو عواملوڅخه چي دسمپاتيك اوپاراسمپاتيك عصبي سيستم توازن اوتعادل په حرکت او خوځښت راولي دسازاوسرود ارتعاشات (څپي)دي.

سازاوسرود دغمګينى دتارونو اوفعالو سندروسره :کله پدي ډول دسمپاتيکو اوپارا سمپاتيکو عصبي سيستمونو تر منځ تعادل له منځه وړي چي دژوند اصول اوبنسټونه لکه جذب (راکشول) دفع کول ، هضمول ،ترشح کول ،د زړه ټکان ،دويني فشاراو نورمايعات ګډوډ کوي او انسان دډيرو نورو مرضونو سره مخامخ کوي.

وروسته له دي چي په لنډ ډول مو دفيزلوژي دپوهانو څيړني دانسان دعصبي سيستم په برخه کي څرګندي کړي اوس دډاکترانو اوطبي عالمانو اقوال او نظريات دسازاوسرود دزيانونو اوضررونو په هکله په لاندي ډول بيانوو:

## دسازاوسرود مهم او خطرناك تاثيرات اواغيزي :

ساز اوسرود داعصابو دکمزورتيا مهم سبب دي، دنړۍ دلويو طبي مرکزونو په نظرپه اوريدونکي کي هغه مهم اثر اواغيزچي سازاوسرود يي پري اچوي داعصابو کمزورتيا ده نودغه موضوع پدي سره داهميت وړده چي **اروپايي** دډير مشکل سره مخامخ کړي ده ځکه چي داعصابو کمزورتيا دنورومرضونو زيږنده ده دهر ډول بدني او ذهني تکليف دپيداکيدو اساسي سبب اوعلت هم همدادي.

پدي چي دنړي دزياتو طبي مرکزونو او علمي مؤسسو دڅيړنوله مخي دې نتيجي ته رسيدلي چي دذهني اوعصبي مريضانو اساسي اوتر ټولو لوي سبب همدغه سازسرود او کنسرت دي اودغه نظريه (تيوري) دزياترو اروپايي

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ساز او سرود د اسلام ا وطب له نظره

اوامریکائي پوهانو دتائید وړګرځیدلي ده اوپه تدریج سره ټولو پوهانو په همدي نظریي دتائید مهر ولګاوه تردي چي دزیاترو اروپايي اوامریکایي پوهانو ،لیکوالانوله اړخه خپلو حکومتونو ته دا وړاندیزوشو چي کوم خطرناك مرضونه چي دسازاوسرود په وسیله رامنځته کیږي باید مخه يي ونیول شي چي تر ټولو مهم د اعصابو کمزورتیا ده کومه چي د سازاوسرود په سبب منځته راځي.

دکولمبیا دپوهنتون پروفیسور(ولف آدلر) وايي :دسازاوسرود ډیرغوره او زړه راښکونکي غږونه دانسان داعصابو په لړي ډیربد آثار او اغیزي منځته راوړي .

دده څیړنو په امریکا کي دومره تاثیر وکړچي په زرګونو وګړي دده ملګري شول سازاوسندري يي په خپلو ځانونو حرامي کړي او ددي غوښتونکي شول چي دعام کنسرت مخنیوي وکړي .

### سازاو سرود دزړه دسکتي اوټکان سبب کیږي:

د زړه دسکتي او ټکان دمهمو اسبابو څخه ساز اوسرود ته غوږاېښودل ګڼل شویدي پدي اړه ډاکتر (آوریزن اسوت مارون) وایي: دساز څخه راغلی دانسان داخلي حرکت او خوځښت دقلبي سکتي ترټولو لوی عامل اوسبب دی ځکه چي زیاتره سازنده ګان دزړه په سکته (دریدو) سره مړه شوي دي ددي وضاحت څخه داپه ډاګه کیږي چي دانسان داخلي حرکت کوم چي دساز په وسیله منځته راځي څو مره زیات خطرناك دي ،په انګلستان کي دماشومانو دروانشناسی متخصص ډاکتر (رپرت) دزړه دټکان په اړه داعقیده لري چي ماشوم دموریه ګیډه کي دساز اوسرود تراغیزي لاندي راځي که چیري حامله ښځه سازاوسرود ته غوږونیسي نوپه ګیډه کي يي دماشوم دزړه ټکان زیاتیږي چي دغه حالت دشپږومیاشتو څخه وروسته منځته راځي.

### سازاوسرود دویني دفشارسبب کیږي:

دسازاو سرود دډیرو خطرناکو زیانونوڅخه یوهم دویني فشار دي ډاکتران پدي اړه خپلې نظریې لري چي په لنډ ډول يې څوبیلګې وړاندې کوم:

زیاترو آلماني روان شناسانو داخبره ثابته کړې ده چي ساز اوسرود دوینې فشارپورته اوښکته بیايي ،یو اروپايي ډاکتر دوینې دفشار دلاملونو دڅیړنې په درشل کي کوم چې په نوي دنیا کي ډیر زیات شوي دي ،دفشارآله يې په لاس وترله اورادیو يې چالانه کړه دساز اوسرود دمختلفو پروګرامونو په اوریدلو سره لاندې نتیجې ته ورسید چې:

الف : په هره اندازه چې سازاوسرود ناخوښه اوغیرمناسب وي په همغه اندازه دوینې فشار زیاتیږي ،دساز اوسرود د اوریدلوپه مهال کوم آوازونه چي دروح دسستۍ او سترتیا سبب ګرځیدل په یقیني ډول دوینې فشار دومره اوچت شو چي ډاکترې وارخطا کړاوحیران شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ب: دساز اوسرود ځيني ډولونه داسې دي چې دآرامۍ اغيزې لري ترهغه وخته چې دوام لري دوينې فشاردعادي حالت څخه ډيرښکته کيږي.

ج: ساز اوسرود دډاکټر په روح اودوينې په فشار داسې اغيزې لرلې چې په يقيني ډول يې دهغه روغتيا ته ګواښ پيښاوه .

پروفيسور (هنګري اوګدن) دلويزيانا دپوهنتون دروانشناسۍ استاد چې پنځويشت کاله يې درواني ناروغيو په اړه څيړنې کړې په نيوز ويك مجله کې يې مقاله ليکلی وايي: ډاکټر(ارنولدفريدماني) دنيويورك دشفاخانې ډاکټر او دسردرد دکلينك رئيس دنور الکترونيکي ماشينونو په مرسته د مغز دڅپو تعين او هغه تجربې چې دزرګونو مريضانو دمراجعې اوراتک څخه يې ترلاسه کړې ثابتوي چې :يو دډيرو مهمو اسبابو څخه چې دروحي اوفکري خستګۍ ستومانتيا او دعصبي سردردي باعث ګرځي سازاوسرود ته غوږايښودل دي په ځانګړې ډول هغه کسان چې په ډيردقت او بشپړپام سره موسيقي اوري.

## ساز او سرود دارادې دسستوالي لامل دی:

دارادې دقوت ،کمزورتيا ،غير ارادي حرکات او خوځښتونه دسازاو سرود دحتمي زيانونو څخه ګڼل کيږي ، دساز اوسرود شوم اوبد سندريز غږچې دغږيزوکشولو په وسيله اوهمدارنګه متحرك آوازونه دا ټول توان او طاقت سستوي دبدن ټول اعضاء دانسان د ارادې توان څخه وباسي.

***سازاوسرود دسستۍ اوکسالت لامل دی:***

دسازاوسرود داغيزو څخه يو دسستۍ او افسردګۍ دحالت منځته راتلل دي په هره اندازه چې دانسان په اعصابو باندې سازاوسرود چاپيرشوی اومنګلې يې پرې لګولې وي په همغه اندازه دسستي ، اوټنبلي روح په انسان باندې غورځيږي په انسان کې دمطالعې شوق لږيږي ،استعدادي کمزوری کوي ،دسازاوسرود هغه عميق اوزيانمن تاثيرات اواغيزې چې پراعصابوپريوزي ،فطري استعداد اوفکري نبوغ چې په تحصيل کې دپيشرفت او وړاندې توب اصلي لامل دی په بشپړډول له منځه وړي.

## سازاوسرود دفکري رکود اوتاريکۍ لامل دي:

يوبل دقطعي اوثابتو زيانونو څخه چې سازاوسرود يې لري دادی چې يوعجيب فکري رکود په اوريدونکي کې منځته راوړي لويوپوهانو دغه حالت ته (دفکربندول) ويلي دي ،اوهمدارنګه د(آيين حفظ وتقويت حافظه) کتاب کې راوړي: دانسان دحافظې دختمولوداساسي عواملوڅخه سازاوسرودته غږايښودل دي.

***سازاوسرود دقضاوت دتوان له منځه وړلولامل دی:***

کله چې سازاوسرود دانسان په ذهن اواعصابو تسلط ومومي نوداسې يوحالت پرانسان راځي چې په بشپړډول دصحيح قضاوت اوسموافکارو څخه لاس په سر شي اوکله هم هرڅه دده په نظر يوشان ښکاري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



***سازاوسرود دباصرې (ليدنې) حس له منځه وړي:***

دسترګو دفيزلوژي له پلوه ، دسترګو دعضلاتو سم اوصحيح حرکت ددوه ډوله سمپاتيك اوپاراسمپاتيك اعصابو په وصيله منځته راځي ،کله هم دباندنيوخوځښتونولکه سازاوسرود ،نوله همدي امله ددواړوعصبي سيستمونوتعادل له منځه ځي چي پدي مهال يو دډيرو بدواغيزود جملې څخه دليدنې قوت (د باصرى حس) کمزوري کوي.

***سازاوسرود داخلاقي فساد اوهلاکت لامل دی :***

دسازاوسرود هغه قطعي اوحتمي زيانونو څخه چې دموسيقى دبدوآوازونو په وسيله چې پوهان دهغې پايلې ته رسيدلي دي اخلاقي فساد اودفحشا خپرول دي ځکه چې موسيقي وګړي دشهوت په لور اودحيواني قوې دحرکت اوخوځښت خواته بيايي پدې ډول چې څومره دخرابو انساني موازينوڅخه لرې موسيقي ډيره اوريدل کيږي ،په همغه اندازه ښکته اونااانساني اخلاق اوفساد زياتيږي ،لکه څنګه چې زموږپدې اوسنۍ تش په نوم ديموکراسي نظام کې دهنري بربنډوفلمونوښکارشوي يو اودتولي کفري نړۍ دملنډوځاي ګرځيدلي يو اوديوفرهنګي پلان شوي استعماري هجوم هدف ګرځيدلي يو داتول پدي چې دين مو پريښی داسلامي مقدساتو حمايت نه کوو،دکفارو مقابله نه کوو ، کفاروته مومخه ورکړي حتي ځيني لاداهم وايي چې ميلمانه دي اوکه دشؤون اسلامي دکوم عالم سره مخ شې هغه بيا وايي چې راغلي کفارمستامنين دي مقابله يي ناروا ده دحکم تعميل يي ضروري دي څومره دافسوس خبره ده دانه وايي چې دوي خو د ۵۲B الوتکو په زور راغلي دي زموږ هيواد يي نيولی هيواد مواشغال شوی .

الله جل جلاله فرمايي:( وَلَنْ تَرْضَى عَنْكَ الْيَهُودُ وَلَا النَّصَارَى حَتَّى تَتَّبِعَ مِلَّتَهُمْ [البقرة/120] يعني :هيڅکله به له تاڅخه يهود اونصاري راضي نشي تردي چې د دوي متابعت اوپيروي وکړې .

په زور راغلي خلك په رضانه ځي مصارف يي شوي دخپلې باطلي عقيدې لپاره يې سرونه ورکړي همدااوس زموږ په ګران هيوادکي دځلوښتوهيوادونو نظامي اډې موجودې دي زموږ دهيوادځمکه او فضاء دهمدوي په ولکه اوسلطه کې ده لاس موتړلي خولې موبندې ،که څه احساس اوخوځښت راکې پيداشي بيامودبيان دآزادی ،ديموکراسی د ډالري معاشونو په شوووعدوسره غلي کړي ، درتبواومعاشونواوسنۍ ظالمانه نظام راته څرګندکړي ،راتلونکي مودسراب په څير راته وبريښوي...

خواي افسوس چې هم ايمان لاړواوهم پارلمان دآخرت ورځ ډيره سخته د5، دځانکندن زړه درديدونکي حالت دقبر عذاب ،دنکير اومنکر سوالونه او بياهم دبرزخ ژوند......

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سازاوسرودداحساساتو اوعواطفو دمنځه وړونکی:

دسازاوسرود دډیروبدوآثارو اواغیزوڅخه یوپه اوریدونکي کې داحساساتواوعواطفوله منځه وړل دي، ځکه سازاوسرود عواطف کموي اوورور ولې له منځه وړي، داسې ډیرتجربه شوي چې کوم خلك چې دانسانیت عواطف دمیني اومحبت حس یې داسې درجې ته رسیدلي وي چې په ډیره وړوکې حیرانوونکې منظري او کوچنې انځورسره تراغیزي لاندي راځي ،خوپه دوامدارډول دسازاوسرودپه اوریدو سره خپل عواطف اواحساسات داسې له لاسه ورکوي چې د زړه راښکونکو او ټکان ورکوونکو منظروپه لیدلوسره هم په دوي کې کوم کوچنۍ اثر اواغیزې ځاي نلري نوخومره چې موسیقي زیاته اوریدل کیږي په همغه اندازه احساسات هم کمیږي باید دانکته په پام کې ونیول شي چې : ښایي کله سازندګان (چې موږ په پښتو کې ډمان ورته وایو ) دځینو وړوکو منظرو په لیدلوسره ناآرامه شي آن تردې چې زیات به وژاړي ،بایددیته ځیر شو چې ددوي دغه ژړا ددوي دکمزوري ارادې او دقوت دتعادل دمنځه تللو ښکارندویي کوي نو داعصابو اوارادي کمزورۍ باید دعاطفې او احساس دموضوع سره اشتباه نکړل شي.

## دسازاوسرود ډیربداثرات دانسان په وجودکې منځته راځی چې :

١- دغیرت له منځه تلل.

٢- دسمپاتیك اوپاراسمپاتیك اعصابو دتوازن اوتعادل نشتوالی یعنې ددغه دواړو عصبي سلسلو دبې نظمی په صورت کې لاندې ستونزې اومشکلات منځته راځي: بیلابیل زیانونه اوخللونه لکه : سستي ، بې اراده توب ،سرګرځیدل ، بې اختیاره راغورځیدل ، دمعدې پرسوب ، عصبانیت .

٣- مانې (Manie) مرض یوډول لیونتوب دی چې بیلابیلې درجې لري.

٤- پارانویا(Parania) مرض یو ډول روحي مرض دی چې یو شخص ځان تر نورو ښه بولي یعنې بې ځایه دعواوې کوي.

٥- سیکلوتمي مرض: (هنري باروك) چې یو نړیوال پوه دی وایي: دایو ډول روحي مریضي ده چې مریض کله خاندي او کله هم خپل تندی تریو کوي او کله نیولې او غمجن وي.

٦- دعمر لنډوالی .

٧- داعصابو کمزورتیا.

٨- دماغي اختلالات لکه دمغز شورش ، روحي خوځښتونه اولیونتوب.

٩- دزړه اغیزې.

١٠- دانتحاراوخودکشی وسایل.

١١- دوینې دفشارمریضي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۲- دفحشا لاملونه.

۱۳- داوریدلو دحس کمزورتیا اوله منځه تلل (دسامعې حس) .

۱۴- دلیدلو (باصرې) دحس کمزورتیا اوله منځه تلل .

۱۵- دجنایت سبب جوړیدل .

۱۶- دغیر طبیعي توجه جلبیدل.

۱۷- دبشري امتیازاتو اوفکري توانمندئ له لاسه ورکول.

۱۸- سستي اولټي.

۱۹- دشهوت راپاریدل.

۲۰- دځوانئ مرګ ،اودعمرله منځه تلل.

21- دمریتوب (غلامئ) پرې غاړې ته اچول.

۲۲- دلغوې او بیهوده لارې اختیارول.

۲۳- دوخت ضایع کول.

## یو مهم ګواښ:

دنړئ ډیر مشهور پوهان اوڅیړونکي دساز اوسرود داصلي څیري دښکاره کولو لپاره ډیري څیړنې اوبشپړه مطالعه ترسره کړې په پایله کې یې کوم قانع کوونکي شواهد اودلائل لاس ته ندي راوړي چې دساز اوسرود ښایسته والئ وښیي ولې داتولې څیړنې یې زیانونه او ذهني ضررونه په ګوته کوي.

نو منطقي نتیجه یې چې موږ ورسره مخامخ نو داده چې دساز اوسروداصل، دخوند اخستلو احساس ، ذهني ضررد نافرمانئ دضرر ترڅنګ دالهي مکلفیت او دیني تعهد په مقابل کې په واضح ډول څرګندوي.

**جناب موسوي صاحب وایي** :په ځینې حالاتو کې چې ساز اوسرود ته یا هم هغه ساز او سرود ته چې ګومان کوم ممنوع اوحرامه دي غوږ ږدم او دافرض کړم چې دا ډول کارونه به حرام هم نوي نو لږ ترلږه یو نازك حد ته رسیدلئ یم چې یو پلوته په یقیني ډول دممنوعیت اوحرمت خواده خو څنګه چې دانسان نفس په خوند اولذت پسې ګرځي نو په تدریجي ډول قانون ترپښولاندې کیږي.

## تجربه اواعترافونه:

الف:په لویدیځه نړئ کې دسازاوسرود دبندیدلوغښتنه هغه وګړي کوي چې ټول عمر دسازاوسرودپه څېراوي کې بوخت وه نن ورځ دخپل بد عمل څخه پښیمانه دي نوله همدې کبله ځینې امریکایانو ددي دبندیدلو غوښتنه کړې ده وایي: (دتنکیوځوانانو دوالدینو یوې ډلې"Tomarow"تومارو دپروګرام لاندې یې دامریکا دکانګرس ،،مجلس،،څخه وغښتل ترڅود راك او رپ موسیقي ممنوع اعلان کړي ) ځکه د دوي دزامنو دله

(c) ketabton.com: The Digital Library



منځه تللو سبب کيږي د دوي څخه يوه يې د " BBC " راديو ته وويل چې زما ځوي د رپ د آهنگ تر اغيزې لاندې رغلی چې دخودکشی يا انتحار تبليغ کوي . يو ډاکټر وويل : دغه آهنگ ته غوږ نيول د اوريدلو(دسامعې) دحس دکمزورتيا لامل کيږي .

ب: ديو مشهور آوازخوان نظر:

،،فرانکوباتيوتو،، چې داتاليا هيواد د ،،راك،، دموسيقی مشهور آوازخوان چې اوس يې دغه شوم اوبد عمل پريښی دی د،،راك،، دموسيقی په اړه خپل نظرداسې بيانوي: ديو انسان لپاره دابس ده چې د،،راك،، موسيقي ته غوږکيږدي ترڅودشيطان تابع شي.

ج:دښاري ټولنې دريس نظر:

دماليزيا د،،کلانتان،، ولايت دمرکز دټولنې ريس ،،کوتابارو،، سازاوسرود منع اعلان کړل او وېې ويل : دولتي چارواکي داعقيده لري چې سازاوسرود غيراخلاقي کړنوته لارهواروي اودهمدې کار سبب کيږي.

دفرهنګي بد او ډير ناوړه تيري دجملې څخه يوهم دهنردنامه څخه بده ګټه اخستل دي اګرچې واقعي هنرپخپل ذات کې ښه دی مګر کله دغه پاك څيز دبدو خلکو لپاره ناپاك هدف اوموخې ته وسيله ګرځي ،هغوي هڅه کوي چې دهنر دغه صافې اوبه دفساد اوشهوتونو په ميکروب سره ګډې کړي اوهغه د((ګوارا)) دشربت په نوم دځوانانو په خولو کې ورواچوي ،دهنر ترپردې لاندې دځوانانو څخه دانسانيت هنرترې سلب اوله منځه يوسي ، دهنر په نوم نڅا، بد اوخراب سپورتونه (ورزش) ، غير اخلاقي سازاوسرود ،لوڅ اوبربنډ فلمونه اونور غير اسلامي اونازوا کارونه په ټولنه کې رواج کول ترڅو دلويديځ کفري فرهنګ ته دخپريدو زمينه اوفرصت برابرشي.

مګرځوانان بايد دغه ټکي ته ځيرشي چې هرفن ته هنرنه ويل کيږي ترڅو هغه په دوامدار ډول تعقيب کړي.

بلکې واقعي هنر هغه دی چې دانساني ارزښتونو ،او دانسان دانسانيت لپاره وې نه داچې دشهوتونو دخدمت او دشيطان دپيروی اوتابعيت لپاره ترسره کيږي ځکه که هرفن ته هنر ووايو نو بايد غلا ، قتل ، جنايت ،اوفريب بازی ته هم هنرووايو نوبايد غل ، قاتل ،جاني او فريب ورکوونکی هنرمند وبولو.له دې څخه وروسته بايد پام وکړوچې هغه اصلي فن کوم ته چې هنروايو په دوه ډوله دي:

لومړی: هغه فن چې دانسانيت داوچتوپوړيو دارزښتونو او دانسان دهراړخيزپيشرفت اوپرمختګ لامل ګرځي.

دوهم: بل هغه فن چې دشيطاني غوښتنو اودانسان دانسانيت دسقوط اوله منځه تللو لامل ګرځي.

نويقيناً دهنر ښکلې ټولنه دلومړي ډول فن په لرلوسره ښايسته ښکاري نه د دوهم ډول بد اونا مناسب فن په لرلوسره ،دلويديځ دکفري نړی دفرهنګ خپروونکي دغه هڅه کوي چې دځوانانو دغفلت اوبې پروايي څخه په ګټې اخستلوسره دواړه ډوله هنر ښه اوبد دهنر ترنوم لاندې ځوانانوته وړاندې کړي پدې سره دهنرترپرده لاندې دلويديځ کفري فرهنګ خپورکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



### موسيقي داستعمار دكاري وسائلو څخه ده:

دنړۍ اشغال ګران هروخت دوګړو دبيدارۍ اړپه ځانګړې ډول دځوان نسل څخه په ويره کې دي نوپه همدې اساس د دوې د ډيرو پراخه پروګرامونو څخه چې اشغال ګران يې دخپل اشغال د اوږدوالي په خاطر پرمخ بيايي ترڅو ټولنې دغفلت ،بې خبرۍ ، ناپوهۍ اوبيلابيلو بې ګټې پروګرامونو خواته کش کړي .

نن ورځ نشه يي توکي يواځې دتجارت لپاره نه کاريږي بلکې داشغال ګرانو دسياسي فعاليتونو مهم کاري وسايل دي ، چې دفحشاء دمرکزونو ، دقمار دکلوپونو اونورو ډيرو بدواوخرابو پروګرامونو په جوړولوکي تري کاراخلي چې له دې څخه يوهم دسازاوسرود پراخوالی دی چې دا د ډيرو مهمو وسايلوڅخه دي دوګړو دافکارو دنشه کولو لپاره پرې زيات ټينګار کوي نو ځکه زياتره نړيوالې راديوګانې زيات وخت په ساز اوسرود سره تيروي نو دټولنيزو ارتباطي وسايلو څخه يې اساسي اواصلي پروګرامونه همدغه ساز او سرود دی اوبس.

### ځوانان دفساد اوفتنې په ډنډکښې:

الف: تحريکوونکي سازاوسرود : **دفساد دډيرو خوسا ډنډونو څخه چې ښايي ځوانان په کښې ولويږي يوهم دنڅاسره سازاوسرود دی.**

په عمومي ډول سازاوسرود په دوه ډوله ويشل کيږي:

**الف:ډيربداوخراب سازاوسرود .**

**ب: لږبد سازاوسرود .**

ډيره بده موسيقي هغه ده چې په هغه کښې دلهو اولعب مجلسونه اوغونډې وي انسان په شيطاني سوچونو کې ډوبوي دمعنوي کارونو څخه يې ليرې کوي ، دوهم ډول موسيقي هم څه ځانګړې امتياز نلري.

په اسلامي شريعت کې موسيقي اوريدل اودهغې آلې جوړول حرام دي اګرکه مستقيماً واوريدل شي اوياهم غير مستقيم لکه دټيپ کيسټ.

پدې کښې شك نشته چې سازاوسرود ته غوږ ايښودل او دشهوت پاروونکو آوازونو سره بوختيا دهغه زيانونو سربيره چې په اعصابو راځي دانسان روح اواخلاقو ته هم زياته صدمه او ټکان ورکوي ځکه ساز اوسرود ته غوږ ايښودل انسان دغفلت اوبې پروايي حالت په وړاندې چې ډير زرله منځه ځي په انسان کې معنويات ختموي دپاکۍ اوعفت پردې شلوي او دالله جل جلاله سره ټينګ ارتباط له منځه وړي.

سازاوسرود ته دغوږ ايښودلوپه نتيجه کې انسان د الله جل جلاله د ذکر ، دعا اوزاري څخه لذت نه اخلي اوهميش شهواني اوشيطاني سوچونوکې ډوب وي ، که يواځې دموسيقۍ اغيزې دالله جل جلاله سره درابطې او زاري دلذت څخه محرميدل وي اوهمدامنفي اثر ولري نو داپرځای اومناسبه خبرده چې انسان بايد دغه تباه کوونکو زهروته ورنيږدې نشي او دغه تاواني راکړې ورکړې ته ورونه دانګي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځوانان بايد پردې پوه شي هغه زړه چې هروخت ديوفاسد او خوږ مزه آواز خوان غږ اوري په هغه کې دالله جل جلاله لپاره ځاي نشته او نورمعنويات هلته ځاي نلري ، دانسان روح داسې ده چې دوه ضد څيزونه په هغه کې نه ځائيږي .

آيا ددي څخه زياته تاواني معامله (راکړه ورکړه) به وي چې يو انسان دشهوت پاروونکي غږ چې ديو بې احساس آوازخوان څخه يې اوري خپل ځان دالله جل جلاله دنيږديکت او دهغه الله جل جلاله دمينې او محبت څخه محروم کړي ،دحيواني مزاجه شهواتو څخه دخوند اخستلوپه ډنډ کې ډوب شي اوخپل قيمتي ژوند وپلوري ،په مقابل کې دښځو اونارينه ؤ مختلط آوازونه دغفلت او بې پروايي موسيقي پري واخلي ، په يقيني ډول چې دايوه احمقانه اوزيانمنه سوداګري ده .

الله جل جلاله فرمايي : **{ أُولَئِكَ الَّذِينَ اشْتَرَوُا الضَّلَالَةَ بِالْهُدَى فَمَا رَبِحَتْ تِجَارَتُهُمْ وَمَا كَانُوا مُهْتَدِينَ [البقرة/16] }**

ژباړه: هغوی داسي خلك دي چې تياره او ګمراهی ،( چې يودهغه دمعني اومصداق څخه موسيقي ده ) ،، لارښووني اوهدايت ته ،،( چې يو دهغه معني اومصداق څخه دالله جل جلاله سره انس او محبت دی،،) عوض کړي يي دي نو دخپلي سوداګری څخه يي ګټه نده ترلاسه کړې هدايت اونيکبختي ته يې کومه لاره نده موندلې .

موسيقي هغه اخلاقي اومعنوي زيانونو چې لري يې ځني يی دادی لکه : دشهوتونو مينه ، دزړونو مړينه ، دالله جل جلاله سره دانس اومحبت دخوندڅخه محروميت ، دپاکي اوعفت دپردوشليدل ، دعقل کمزورتيا ، دګناه کولولپاره دفرصت ترلاسه کول، ددعا نه قبليدل ، همدارنګه په اعصابو اوبدن باندې زياتې ناوړه اغيزې لري چې نن ورځ دعلمي پلوه ثابتې شوي دي .

**پروفيسور،،ولف آلدر،، وايي** : سره ددي چې سازاوسرود زموږ اعصاب دنرموالي خواته کشوي اودخپل طبيعي حدڅخه يې باسي اوهغه خوځوونکي آوازونه چې دغږوپه حرکت سره منځ ته راځي اوداسي خولې (عرق ) چې د طبيعي حدڅخه په زياته پيمانه له پوستکي څخه وزي زياتې ضررناکې دي ښايي دنورو مرضونولامل وګرځي.

دساز اوسرودزړه راښکونکې کيسټي (دټيپ فيتي ) دانسان داعصابو په سلسله ډير ناوړه اومنفي اغيزي پريږدي ، په ځانګړي ډول که چيرې هواګرمه وي نودغه تباه کوونکي تاثيرات زښت زيات وي.

**ب: ناوړه اوغيراخلاقي فلمونه:** يوهم دفساد دډيرو ککړوډنډونو څخه چې ښايي ځوانان په کښې ولويږي بربنډواو غيراخلاقي فلمونوته کتل دي چې دا د الله جل جلاله او اسلامي مقدساتو څخه دليرې والي يومهم او اساسي لامل دی، له هغه ځايه چې ددين اوقرآن کريم دښمنان داسلامي امت سره دمخامخ جګړې څخه مايوس اوبې هيلې شوي دي نو ددي په هڅه کې دي ترڅو زموږځوانان دفساد خپرولو اسلامي اومعنوي ارزښتونو ترپښولاندې کولو اودبربنډوفلمونوپه ليدلوسره بې لارې کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نن ورځ چې زموږ ځوانان دماديت ،شهوت غښتني ،دښه ژوند تيروني ،بي عفتي ،بي حيايي ، دذهن خالي والي دنامناسبو جامو اغوستل ، نامشروع اوناروا اړيکي ساتل ،بي بندوباري اوډيري نوري بي لاري دهمدغه بربنډو فلمونو ميراثه ده.له همدي امله دداسې بربنډو اوغيراخلاقي فلمونو جوړول خپرول اونشرول دهرچا او هر لوري له اړخه چې وي دټولني سره ډيرلوي خيانت دی ځکه چې دا داسلام سپيڅلی دين ،الهي قوانين ټول ترپښولاندې کوي اوهمدافلمونه دانسان هرڅه له منځه وړي ، دايو منل شوي واقعيت دی چې دداسې غيراخلاقي اوناوړه فلمونو ليدل دټولو ديني ارزښتونو ،نيکو اخلاقو ،مذهب ،تقوی ،ديني غيرت اوټولو معنوي اموروپه له منځه وړلوکې ډير مهم رول لري.څومره زياتوځوانانو ددي غير اخلاقي بربنډوفلمونو ليدلوسره دناپاکې اوبې حيايې لاره نيولې اونورېې هم دهلاکت کندې ته ورټيل وهلي اوپه سلګونومشکلات اوربړونه يې خپل ځان اونوروته پيداکړيدي.

زموږ ځوانان بايد دي مسئلې ته په ډيردقت او هوښيارۍ سره وګوري ددسيسه کوونکو دفريبونو ښکار اوقرباني نشي اودانسانيت دښمن نشي ، اوپدي وپوهيږي که چيري ددي فلمونو په ليدلوسره لومړی ګام واخلي دوهم قدم پرته له کوم ځنډ څخه اوچتوي اوهغه ځاي ته رسيږي چې بيرته راګرځيدل يې ډيرسخت اوناشوني دي، ځکه دا ډول کارونه دهغوي لپاره دتروشو اوبو په څيردي څومره يې چې څکي په همغه اندازه نورهم تږي کيږي ،نن ورځ دغرب کفري نړی ددي بلاسره ترپوزوراغلي،ځوانان بايد پوه شي چې دخپل شخصيت ونه دهغه لاري په سرچې په بربنډوفلمونو يې ريشي دبيخه ايستلي شوي ونه کړي ترڅو دهرزيان اوضررڅخه په امن پاتي شي،.. ځوانان بايد پدي پوه شي چې دلوڅو اوغيراخلاقي فلمونو کتل د دوي لپاره دهغه اورپه څيردي چې په هواء کې بل اوټول اطراف يې ګازونيولی وي ، اوداسې لمبې تري اوچتيږي چې هرڅه يې مخې ته راشي سوځوي يې اوپه ايرويې بدلوي.

نوپه يقيني ډول غيراخلاقي فلمونه داستعدادونو دوني بيخ له منځه وړي ريښې يې پري کوي ، دانسان روح تخريبوي اوکله يې ماهيت هم له منځه وړي، اوانسان په يوهوس لرونکی موجود بدلوي،حيوان صنعته ، پست اوبې شخصيته څيزتري جوړوي.

### ج:دساعت تيري غونډي اومجلسونه :

دفساد اوهلاکت دډنډونو څخه چې په ټولنه کې دلويديځ کفري فرهنګ دخپراوي لپاره کارکوي يوهم دساعت تيري مجلسونه دي پدي کې لهو اولعب دوخت ضايع کيدل ، دښځو او نارينه ؤ اختلاط .... منځ ته راځي ، نوهغه کسان چې ددي ناوړه اوکرغيړن کفري فرهنګ لپاره کارکوي دداسې پټو محفلونو اوغيرشرعي مجلسونو دجوړيدو لپاره ګومارل کيږي ،دخپلودوستانو څخه غواړي چې دعيش اوعشرت ، ساعت تيري پداسې

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ساز او سرود د اسلام ا وطب له نظره

مجلسونو کې د ځوساعتونو لپاره ورګډ شي د خوشحالۍ اوخوښۍ په نړۍ کې ورننوځي ترڅو دغیر اخلاقي نڅاګانو ، ساز اوسرود ،لهو اولعب ، اتڼ او داسې نورو ناروا کارونو په کولو سره لذت واخلي.

ګران ځوانان باید پدې پوه شي چې پدې ډول مجلسونواوغیر شرعي ناروا خوښیو کې ډوبیدل دخپلو ټولنیزو او معنوي پرمختګونو خنډ کیږي ، که چیري په خوښیو اوخوشحالیو کې ډوبیدل دبریالیتوب اولوړوپوړیو ته درسیدونښه وي ، نوباید عیاش اوساعت تیري خلك ترټولو غوره او داوچت مقام لرونکي وی مګر دوي دموجوداتو ترټولو بد اوپست وګړي شمیرل کیږي ، دنفساني غوښتنو دهغو څپو په مقابل کې چې دتقوی اودینداری سره په جګړه دي دقوي ارادې نشتوالی دشیطاني هوسونو په جیل کې ورتیل وهلي دي ، نوهیڅکله داسې یو چاته انسان نشي ویل کیدی بلکې دایو بې ارادي ،بې آزادي ،بې شخصیته ، بندي موجود دي چې هیڅ وخت دحرکت توان نشي پیداکولی.

ددې مجلسونو ډیره ښکته مرحله داده چې ځینې د واده مجلسونه ډیربې کفایته ، بې احساسه خلك جوړوي ، اګرچې واده اومراسم یې په شرعي لحاظ ښه کاردي پدې ډول چې دپیغمبر صلي الله علیه وسلم دسنتو مطابق ترسره شي ، مګر په ډیرتاسف سره باید وویل شي چې دواده دغه سپیڅلی سنت کله پداسې بدو اوناوړه اعمالو سره ککړشي،

چې پداسې محفلونو کې دیو متدین او ملتزم انسان ګډون ډیر سخت اوناشونی ګرځي بلکې ځینې داسې رواجونه هم شته چې په هغه کې اسلامي احکام په هرڅه اوهرچاوړاندې ګرځي ، ځینې داسې دینداره او اصیلې کورنۍ هم پیدکیږي چې په هیڅ وخت او حالت کې خپل اصلیت اوشرافت دلاسه نه ورکوي او هیڅ کله دیته نه حاضریږي  چې د واده دمراسمو په بهانه غیر شرعي اوناوړه کارونه وګوري مګر په ډیرتاسف سره باید ووایم چې د ودونوپه ځینې مجلسونو کې اسلامي احکام اودیني ارزښتونه تر پښو لاندي کیږي دفاسدو خلکو دسؤ استفادې لپاره فرصت په لاس ورځي ،په ځرګند ډول پداسې ودونوکې دالهي اوامروپه خلاف عمل کیږي کله هم دلویو ګناهونو څخه لکه دشرابو څښل ، اختلاط ، دساز اوسرود اوریدل ، دنامحرمو نارینه ؤ سره دښځو خبرې اوغیر مشروع نظرونو څخه ځانونه نه ساتل، نو په یقیني ډول دداسې خلکو اوکورنیو سرنوشت دښه والي خواته نه ځي ، ځکه هغه ژوند چې دالهي معصیت او اسلامي ارزښتونوته په نه پام کولو سره رامنځته شي ښه پایله نلري .

**ګرانو ځوانانو** : دواده په هغه مراسمو کې چې ناروا دودونه اوغیر اسلامي کارونه لکه دساز اوسرود اوریدل ، دنامحرمو نارینه ؤ په مقابل کې دحجاب نه مراعاتول ، دشرابو څکل ، غیر اخلاقي نغمې اوترانې اوریدل اوهمدا رنګه نور زیات ناروا او غیر شرعي کارونه ترسره کول نوځوانان باید د دا ډول محفلونو دګډون څخه په کلکه ځانونه وساتی ځکه چې دفتنې او فساد په ډنډونو کې یې دډوبیدو ښه فرصت دی ، خو که چیري څوك پدي

(c) ketabton.com: The Digital Library



نیت ګډون په کې کوي چې د دا ډول ناوړه اوغیر شرعي اعمالو مخه ونیسي نو بیا ښه کاردي او که نشي کولای نو بیا پدي کې ګډون هغوي ته دتائید مهر لګول اودفساد خپرولوته نوره زمینه برابرول دي.

## د: خراب اوناصالحه خپلوان :

ناصالحه خپلوان اوفاسد کسان دځوانانو لپاره دفساد اوبربادۍ اصلي لامل ګڼل کیږي ، نوهرځوان چې دخرابو خپلوانوسره کوم قدم اوچتوي په اصل کې دادتباهۍ اوهلاکت خواته قدم پورته کول دي ، په حقیقت کې خراب دوست دانسان دښمن دی مګر داډول خلك ظاهراً سړي ته ځان دوست وربیژني ولې په اصل کې داخراب دوستان دي چې دستونزوڅخه پرته بل څه منځته نه راوړي ، نوهرهغه څوك چې دبدوملګروسره ګرځي پاك خلك دناپاکانو سره ناسته پاسته ولري دغه غیر اخلاقي مریضی ،او معین فساد پاکوخلکوته هم ورځي ، کله داسې هم کیږي چې پخپله دغه ستونزې ته متوجه نه وي ، دنا اهله اوبدو ملګرو په سبب داسي متاثر کیږي چې دهغو سره کټ مټ ورته والی مومي ، تول کړه وړه ، نظریات ، راکړه ورکړه یې دیوفاسد اوبي دینه شخص ښکارندويي کوي لکه څنګه چي یونیك انسان او صالح دوست دسړیتوب روحیه پرته لدي چې مقابل شخص وپوهوي هغه ته نقلوي او دانسان په پرمختګ اوښه بدلون کې مهم رول لوبوي همداډول بد دوست دانسان په سقوط اوغورځیدوکي هم مهم رول لري.

کله هم ځوانان داسې فکرکوي چې پخپله څوك پاك وي هیڅوك نشي کولای چې په هغه منفي اغیزوکړي نوپدي لحاظ داخه مهم شي ندي چې چیرته لاړ دچاسره کښیناست او خپل ملګري یې څه ډول غوره کړه، مګرداهم بایدوویل شي چې دایو غلط اوشیطاني فکردي چې دانحراف اوبي لاري اصلي لامل شمیرل کیږي ، دایوه داسې خبره ده چې څوك ووایي: که چیري روغ انسان په هرڅومره میکروبي ماحول (چاپیریال) کي ژوند وکړي میکروب دده بدن ته نشي ننوتي ، مګر دایوناشونی کاردې چې په داسې یوچاپیریال کي څوك سالم اوغوره ژوند ترسره کړي ، په یقیني ډول باید وویل شي چي بد اوخراب ملګري دانسان لپاره دمیکروب څخه کم ندي بلکي دسالم بدن دناروغتیا لپاره ترمیکروب ډیرزیات خطرناك اومهم دي.

باید دملګروپه غوراوي کي زیات ځیر کتیا وشي ځکه زموږ ډیري ستونزي د بدوخلکوسره ګډ ژوندانه نه راولاړي شوي دي ، کله چې انسان دزانګوڅخه دژوندانه په لور قدم ږدي نو دتولنې دهر ډول خلکو سره مخامخ کیږي یو پریو دداسې چاسره یو ځاي کیږي چې په پایله کي دبدوخلکو سره دپیژنګلوي په اساس دبدی اوتباهۍ ډنډ ته غورځیږي ، ښایي چې بد ملګری خپلو ملګروته دبدو رسولو قصد ونلري مګر دلړم په څیر داطبیعي خاصیت لري چي همیشه نورچیچي اوخپل په زهرو لړلي اخلاق دنورو روحونو ته ننه باسي ، ځیني خلك پخپل ځان دپاکي اوغوره والي باورلري چې پخپل ګومان سره دبدوخلکو سره اوسیدل او ژوند کول کوم ضرر اوزیان نه ور رسوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



، خپل شخصیت دومره لوړ او اوچت بولي چې بد اومنفي اخلاق به دوي ته کوم زیان ونه رسوي ولې ددې څخه ناخبره دي چې **داور ترڅنګ پخته به** حتما اور اخلي او د **تیږي ترڅنګ شیشه** به حتما روغه نه پاتې کیږي .
خو د بده مرغه انسان داسې جوړ شوی دی چې فساد ، بدبختي ، رذالت او بدي ډیرزر اغیز پرې کوي لکه باروت چې په یوه توکمه اور اخلي او دخپل منځ نه سوزي ، څوك چې پخپل ښه توب اوبهترۍ مغرور وي او د بدو ،ناوړه خلکو سره دملګرتیا نه ډډه نه کوي دداسې چا په څیر دي چې دسیل په مخ کې کور جوړ کړي او پدې فکر وي چې هر څومره قوي سیل به هم دده دکور تهداب ته څه زیان ونه رسوي.

## دجرمونو اوفتنوڅخه دمخنیوي لار:

۱- **ایمان** : دایمان د اغیزو څخه یوهم دفتنو، فسادونو، حق خورۍ، ظلم ، تیري او ټولو جرمونو څخه مخنیوی دي ، هغه هیوادونه چې دفساد او فتنوپه ډندونوکې ډوب شوي غواړي چې دفساد دلاملونو دله منځه وړلو پرته دهغه په ضد جګړه وکړي پدي باید وپوهیږي چې دمعلول په ضد جګړه دهغې دعلت نه بغیر ناشونې ده ، مادي ګري هغه علت دي چې معلول یي یوه ناسالمه ټولنه ده، که چیرې په ټولنه کې ایمان حاکم وي پرته له کوم خنډه ټولې فتنې له منځه ځي . ایمان دمختلفو اړخونوڅخه کولاي شي چې دجرمونو،فتنو اوټولوناوړه کارونو مخه ونیسي چې ځینې یي په لاندې ډول ذکرکیږي:
۱- **څوك چې په الله جل جلاله ایمان لري** نوخپل ځان په الهي محضرکې موجود بولي په دې عقیده لري چې ټول مخالف اعمال اوکړني یي حسابیږي اودخپلو بدو اعمالوجزا ورته رسیږي نو په همدې اساس باید هڅه وکړي چې فتنوته نیږدي نشي.
۲- **دالهي عبودیت په اساس** : انسان دداسې یو حالت سره مخامخ کیږي چې هغه په نفساني غوښتنو اوشیطاني تمایلاتومسلط کیږي چې دشهواني غرایزو کومې چې دټولوجرمونواصل اواساس دي مخه نیسي.
۳- **هغه څوك چې ایمان ولري** دالله جل جلاله سره دخپل ځان دبشپړتوب دنیږدیکت احساس کوي ، له همدې امله څوك چې دفتنواومفاسدومرتکب کیږي کوم چې الله جل جلاله ته درسیدویومحکم دیوال دی له منځه وړي .
۴- **ایمان انسان ته عزت** ،ارزښت اوشرافت وربښي مومن انسان هیڅکله دفسادونو،فتنوپه شیطاني او نفساني ذلیل دام کښې نه لویږي . دوړاندې بیان څخه ښکاریږي چې ایمان دجرمونو اوفتنو په مخنیوي کې ډیر مهم رول لري له همدې امله کوم خلك چې دفتنې په لار درواني انحرافاتو ټولنیزو او کورنیزوبې لاریوپه وړاندې قرارنلري باید دخپل ایمان په تقویت کې هڅه اوهاندوکړي .
که نن ورځ دلویدیزکفري نړۍ ته دواقعیت په نظر وګورو نو دې ټکي ته به متوجه شوچې په افرادوکې دایمان اودمعنوي خلانشتوالې ،په ځانګړي ډول په ځوانانو کې دډیروناوړوکارونو دکیدولامل ګرځي اوبشري ټولنه یي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دزياتومختلفو اخلاقي ككړوالي سره مخامخ کړي ده ،نن ورځ په ټولنه کې دايمان دنشتوالي په اساس ډيري ناخوالې لکه خپل سري ،بي حيايي ،غلاګانې ،په نشه يي توکوروږديوالی ،نامشروع جنسي اړيکې ، په فحشااومنكراتوككړيدل ،قانون ماتيدل او داسې نورچې ورځ په ورځ زياتيږي.

ډيروځوانانو ددې فتنواوفسادونوپه وجه خپل ځانونه تباه کړي خپلې کورنۍ يې په حيرت کې اچولې اوخپله ټولنه يې دزياتو ناخوالو اوكړاونوسره مخامخ کړي ده چې دجرمونو اوفسادونو زياتې شميري ددې مطلب ښكارندويي كوي .

۲- **رواني آرامتيا:** دهرانسان دفطري غوښتنوڅخه يوهم دخپل ذهن اوخاطر آرامول دي نوټول انسانان داغواړي چې ديوڅپانده اوخطرناك بحرڅخه دآرامی اوقرارئ څنډې ته ځانونه ورسوي اوديته لارومومي په همدي ډول يواځي دآرامي(سپيڅلي ايمان) **ونه** كولاي شي خپله دسوكالۍ ميوه ټولوانسانانوته وړاندې کړي ،بي له شكه ديوانسان لپاره آرامتيا اوسوكالي اساسي اوترټولومهم سبب په الله جل جلاله ايمان لرل اودخپل سپيڅلي دين احکام منل دي.

ځکه که دانا آرامي د كوم دنيوي څيز دلاسه د تللوپه خاطر وي نو ايمان موږته دا راښيي چې هرشې دالله جل جلاله په لاس کي دي اوهرڅه چې انسان ته پيښيږي هغه دانسان په ګټه وي، اوياهم ناارامي دمرګ له ويري يا دراتلونكي كوم څيزدلاسه دتللوپه اساس وي، خوايمان مرګ ته نشتوالي اوفناكيدل نه وايي بلکي داديو هميشني ژوندپيل بولي چې دا ټول دمؤمن لپاره خوښي او خوشحالي ده.

اوياهم ناآرامي دكوم ظاهري شكست او ناكامی لامل بولي خو ددين په هنداره کې بيا ناكامي نشته ،ځکه ترهرڅه مهم دالله ج حکم منل دي او دهغه ظاهري اوسمدستي پايلي ته توجه نه كول، ځکه دهرڅه پايله دالله ج په لاس کې ده اوترهمدغه الله ج پوري اړه لري.

اوياهم ناآرامي: داخلاقي وجدان دشکنجه كولوپه اساس منځ ته راځي چي دلويو جرمونو په كولوسره رامنځته كيږي چې ايمان انسان دجرمونواوګناهونوپه ډنډ کې دغورځيدوڅخه ژغوري.

نودذهني نا آرامی اساس اوبنياد په الله ج دايمان دنشتوالي څخه منځته راځي په همدې اساس دايمان دشته والي په صورت کې انسان دواقعي آرامتيا لوړې پوړی ته رسيږي ، الله تعالي فرمائي : { **أَلا بِذِكْرِ اللَّهِ تَطْمَئِنُّ الْقُلُوبُ**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**{ [الرعد: 28]**. ژباړه : خبرداراوسی چي يوازي دالله ج په ذکرسره زړونه آرام اخلي . له همدې امله په ځوان نسل لازم دي چي ورځ په ورځ ديني زده کړې زياتي اودايمان غښتلتياته پام واړوي اوهم خپلي ټولنې ته خدمت وکړي.

## داسلامي تمدن ارزښت:

په يقيني ډول هغه دين چي دانساني ژوندانه ټول اړخونه اوځانګې يي رانغښتي، اوهغه ژوند چي دعقيدې او واقعتونو خواته يې رابولي په يوځانګړي ډول يې انځوروي داسې دين ته ناشوني ده چي ديوخاص تمدن لرلوپرته خپل ژوند وساتي ، هو: داسې دين دځان لپاره ديوي مناسبې فضا غوښتونکې دي چي دخپلوموخو او ارزښتونوته په ترلاسه کولوکې ورسره ملګرتيا وکړي ،له همدي امله داسلام دين دنورو دينونو په پرتله يو ځانګړي اوممتازځاي لري فرايضو او عبادتونو ته زيات ارزښت او اهميت ورکوي ددي په اړه دخاصو قواعدو اوځانګړوضوابطو په بيانولو سره يي ښوولي دي ، په اسلامي جهان بينې کې يې پاکې اوسپيڅلتياته ځانګړي ځاى ورکړي.

**داسلام له نظره پاکي د نظافت سره مترادفه کلمه ده** ، همدا ډول يواځي د اخلاقي جنايت څخه ځان ژغورلوته عفت اوپاکوالى نه وايي بلکې عفت اوپاکي دواړه لغتونه په اسلام کې ژور اوپراخه معناوې لري ، له همدې امله اسلام اصلا ړلويديزتمدن سره هيڅ ډول سازش اونږديوالى نه مني،کوم چي په تاريخي لحاظ ترځانګړو لاملونو اوشرائطو لاندي منځته راغلي وي اوپه داسې چاپيريال کې يې رشد اونمو کړي وي چي ترزياتې مدي پوري مادي پرستي اوددين سره دښمني پري حکومت کړى وي نو څنګه کيداي شي چي په هغه کې به پاکوالى اوسپيڅلتيا موجوده وي.

**علامه ډاکتر اقبال** چي پخپله هم دلويديزي نړي دتمدن او تاريخ پوهانو څخه دی په يوه ډيره لنډه جمله کې يې دغه واقعيت ته اشاره کړى وايي: ددغه تمدن اوپرمختګ روح او اساس دعفت او طهارت سره اوړد واټن لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**په اسلامي تمدن کې دعباداتونو نظام** دپاکوالي سره بشپړه رابطه او تړون لري مګر دلویدیزتمدن داسې ندی.

اسلامي تمدن زړه اوسترګو پاکوالي ، دنظر اوفکرپاکوالي ته بلنه ورکوي ولې غربي تمدن یواځې دقانون اوچاپیریال پیژندني له نظره ارزښت ورکوي اوبس ، که چیري عمومي فضا اویاهم مقابل لوري دکوم کاراجازه ورکړي دهغه بدکاربدي له منځه ځي اوله هغه وروسته دعزت اوپاکۍ ضد نه کنټل کیږي ، په پایله کې قانون رواج اوچاپیریال ته تسلیمیږي اوبس.

اسلامي تمدن حجاب اوسترلازم بولي مګر غربي تمدن حجاب اوستر ته کوم ارزښت نه ورکوي او دا دبشر دحقوقومخالفت بولي بلکي په لومړي مرحله کې پخپله دپردي اوحیاپه ضد اقدام کوي اوهغه یووروسته پاتي کاربولي.

**اسلامي تمدن دنر اوښځې آزادانه اختلاط ردوي :** اوداکار دټولني لپاره داخلاقي فساد منبع او دکورني نظام دپاش کیدو او له منځه تللو لامل او سبب بولي ولې دغه سرطاني داني ته لویدیزتمدن یو انساني ضرورت او اساسي اړتیا وایي ، کوم حالت چې موږ مسلمانان په ځانګړي ډول افغاني مظلوم اومحروم ملت یي دسرپه سترګو وېني دښځو اونرو اختلاط په دولتي ارګانونو، غربي صلیبي تش په نوم خیریه مؤسسو کې دي حدته رسیدلې چې زیاتره ښځې دهغوي دجسمي ښکلا په اساس په کارونو ګومارل کیږي ، زنا بالکل عامه شوي ( د رمضان په مبارکه میاشت کې موږ ملګري د دولتي دفتر څخه راووتو ګورو یو ځوان د امنیتي کسانو په منځ کې وارخطا ولاړدي پوښتنه مو وکړه څه خبرده هغوي وویل دانګورو په باغ کې یي دیوي نجلۍ سره په رڼا ورځ زنا کوله او موږ راوست ، سبا شو، موږ دیو څه ناڅه سزا او جزا اوریدو ته په تمه وو خو هغوي وویل نجلۍ ویل زه یواځې په اطاق کې ویریږم بیا مو دواړه هلك اونجلې دري ساعته په یو اطاق کې بندي کړل په پای کې د نجلي خور راغله او زیات فریادیي کاوه زموږ هم زړه پري وسو او پري مو ښول ) دا د غربي تمدن یوه وړوکې بیلګه ده پدي ډول

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ساز او سرود د اسلام ا وطب له نظره

هره ورځ په زرګونو مثالونه دهیواد والو په وړاندي رامنځته کیږي خو افسوس چي ضمیر مړ دي احساس نشته ، تش په نوم د دیموکراسی اتڼ ته بې دینه خلك غړمبیږي .....

سربیره پردې نورزیات اساسي او اصولي توپیرونه چي داسلامي تمدن له نظره لکه عکس ، تصویر ، دسپي ساتل د طلا ،سپینو زرو او وریښمو کارول دنارینه ؤ لپاره داټول څیزونه او داسې نور دغربي صلیبي تمدن سره په بشپړ ډول توپیر لري.

پدي اساس په لوستونکو لازم دي چي دعقاعدو، عباداتو سنتو، مستحباتو ، نبوي سیرت او اسلامي عاداتونو سربیره هڅه وکړي چي پخپل کور او دژوند په چاپیریال کې اسلامي تمدن او د ژوندانه طریقه ترخپلي وسې پوري ژوندی کړي او دهغې مطابق خپل ژوند برابر کړي ، دغربي صلیبي تمدن او دهغه دځانګړتیا ؤ څخه ځان وژغوري ، دغربي تمدن نښاني لکه دښځو اونارینه ؤ ګډوالي ، دشرعي حجاب نه مراعات کول ، دعکس او فوټو کارول ، ساز اوسرود دخپل مشغله او بختیا ګرځول دسپیو روزل او په هغو لاس وهل دمشکوکو او مشتبه خښاکونو خوراکونو استعمالول او داسې نورو څیزونو څخه باید په ټینګه ځانونه وساتي په شرعي حجاب ، حیا ، پرده ، دپاکې او سپیڅلې لاري تعقیبول ، دقبلي پیژوندل ، داسلامي لباس او خوراکي لوښوتوپیرلرل ، زامنو او لوڼوته دیني تعلیم او تربیه ورکول دي ټولو څیزونو ته باید په ټینګه توجه او پاملرنه وکړي داځکه چي ددې څخه پرته شرعي او اسلامي ژوند کول امکان نلري بلکې دفرائضو او واجباتو سرته رسول هم مشکل او ستونزمن دي.

**سربیره پردې** : که چیري اسلامي امت دخپل تمدن او اصل اسلامي فرهنګ څخه لري شي په پاي کې د واقعي ژوند څخه بیل شوي یواځي دعقیدي ،عباداتو او دیني مراسمو په چاپیریال کې بند شوي او ددوي رابطه دسابقي سره قطعه شوي او په پاي کي ښايي دفکري او اسلامي تمدن دتردید سره مخامخ شي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



په اوسني وخت کي اخلاقي ګډوډي رامنځته شوي کورني نظام اوجوړښت له منځه تللي اسلامي امت غربي صليبي تولنو په څيرچي دغه اخلاقي مرضونه يي خپلي اوچتي پوړي ته رسيدلي ښايي داخلاقي جزام سره مخامخ شي په ډيرتاسف سره نن ورځ زيات اسلامي هيوادونه په پټو سترګو دصليبي لويديز تقليد کوي په هغوي پسې روان دي دهغوي په څير ژونديي اختيار کړي چې دهغه منفي اوکرغيړن آثار ترلمر روښانه دي.

## ۴- جومات او لمانځه ته پام اړول:

کله چې لمونځ انسان دفساد اوتباهۍ څخه په ساتلوکې ډير مهم رول لري کولاي شي چې دفرهنګي هجوم په مقابل کې دمقابلې دمهمو لاروڅخه وشميرل شي، په يقيني ډول که چيرې زموږ ځوانان دجومات او لمانځه سره مينه پيداکړي او د الله ج او د هغه دعبادت خوند اولذت درك کړي هيڅکله به حا فر نشي چې خپل ځان په نورو حرامو خوندونو ککړکړي ، لمونځ انسان جوړوي روح پاکوي بدي پخپله حقيقي څيره انسان ته ورښيي ، د روح په چاپيريال دهدايت اورحمت دباران د اوريدو سبب اولامل کيږي انسان دفساد او بديو څخه منع کوي دشيطان نقشي پر اوبو لاهو کوي اوله منځه يي وړي ، انسان پخپلو نفساني غوښتنو مسلطوي لکه څنګه چې الله ج فرمائي: . ژباړه : بيشکه لمونځ انسان رفحشا اوبديو څخه منع کوي.

له همدي امله ځوانان بايد هڅه وکړي چې خپله رابطه دجومات لمانځه دجمعي دلمانځه سره پري نکړي او کوښښ وکړي چې لمونځ پخپل وخت سره اداء کړي ترڅو دالله ج ذکر او ورسره رابطه ټينګول چې په پرتليز(مقايسوي) ډول دبل هيڅ خوند سره پرابر ندي درکړي.

**اي ځوانانو!** دهغو بربنډو او بد کاره آوا زويونکو او نڅا کوونکو څخه وويريږي چې رذالت او فحشا يي آخري حدته رسيدلي وی ، دشرابو او نڅا بنډارونه يي ګرم کړي وی ، په ډيره مستي او جګ آواز سره داسې چيغي او

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ساز او سرود د اسلام ا وطب له نظره

آوازونه وهي لکه د ډول په څیر سره ، ډیري بدي بي حیا په بشپړه بي ادبي سره يي په ژبو داسي کلمات جاري ساتي چې د انسانیت په چوکات کي هم ځاي نلري ، پرته له کوم واټن او حد څخه ښځي او نارینه سره ګډ چې عزت او حیثیت یی تر پښولاندي کوي ، چې دفحشا او بي بند وباري تري له ورایه ښکاري.

**اي ځوانانو** : دهغو خلکو څخه وویریږي چې دوي دپیشرفت او ترقي چیغي وهي د دوي تشو دعوا ووته غوږ مه ایږدي ځکه بدوکارونو ته ښه رنګ ورکوي اوخلکوته خپله نظریه او ایډیالوژي دحل ښه لار ورپیژني او څرګندوي چې دټولو مشکلاتو دحل لار دهلاکو او نجونو د وړوکوالي څخه ګډوالي او اختلاط دی.

دا داسي کلمي دي چې پخپله نه پري پوهیږي او داسې مطالب بیانوي چې په معنا اومهوم يي نه پوهیږي دهغه محتوا نه ده ورته روښانه داداسي خلك دي چې په شعوري یا لاشعوري ډول سره دیهودو صلیبیانو ، کمونستانو او صهیونستانو پروګرامونو او نقشو پلي کوونکي او په لاراچوونکي دي.

دغه خائنان غواړي زموږ ځوانان په فاجرو فاسقو بي احساسه او فاسدو عناصرو باندي واړوي ځکه دوي غواړي چې مسلمانان ځوانان دهغوي هڅي ، جهاد ، او هرراز کوښښونه له یاده وباسي ترڅو دظالمانو او اشغالګرو په مقابل کي دتسلیمی سرونه ښکته کړي ، او ددوي هر بد او ناروا غږ چې دپلیتیو او ککړو مریو يي راوزي باید مسلمان ځوانان ورته چکچکي ووهي او دهر بي دینه او نا مسلمانه شخص حکم ومني دغه کافران غواړي چې زموږ ځوانان دپسونو درمو په څیر چې چیرته وغواړي هلته بوځي پخپله امسايي وځروي . **اي ځوانانو هوښیار اوسی** دکفارو ددي پوچو او بي مفهومه دعواوو او هغه فریب ورکوونکو کلماتو او خبروته متوجه شي او دغه پروګرامونه په دوامداره توګه پخپلو ذهنونو کې وساتی ، خپل عفت په صبر سره وساتي ،خپله رابطه دخپل الله ج سره ټینګه او محکمه کړي ، داافتخار ، سرلوړي تاج ، داسلام سپیڅلي دین ته په راګرځیدوسره پخپل سرکیږدي دهر بي دینه ، فاجر، فاسق دعوت اوبلنه ردکړي ،دملحدانو او کافرانو افتخاراتو او مباهاتوته توجه ونکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ساز او سرود د اسلام ا وطب له نظره

الله جل جلاله  دغه مبارك فرمان ته غوږشي چې:

ژباړه: پيروي مه كوي ددغسې غوښتونو دمخكيني قوم څخه چې گمراه شويدي او ډيرزيات يي گمراه كړي او پخپله هم دښمي لاري څخه كرځيدلي دي.

ددي ټولونفسي غوښتنو،هوسونو او دنورونارسايیوسره سره هيڅوك دغه مقصد ته ونه رسيدل.

تاته مي دهدف اومقصد دخزاني نښه وښوده زه ورونه رسيدم ښايي ته به وروړسې.[29]

دشهادت په باب كې دعدالت په شروطو كې راځي چې څوك سندري وايي دهغه گواهي په محكمه كې رد ده .[30]

ديزيد بن وليد څخه نقل كړل شوي چې وايي: خپل ځان دسازاو سرودڅخه لري كړي ځكه داشرم او حيا كموي ، شهوت زياتوي ځوانمردي له منځه وړي دشرابو اثرعملا په وجود كې ټينگوي .

دښځوسره ديوځاي كيناستوڅخه پرهيزوكړي ځكه د اختلاط او همدارنگه ساز او سرودپه پايله كې زنا منځته راځي.

---

- دوهم فصل زياتره مطالب مي د انتر نيتي شبكو لكه : اصلاح آن لاين او داسی نورو څخه مي اخستی دی .[29]

– كشف الخفاء عن حكم سماع الغناء)صفحه ٢٨ .[30]

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ساز او سرود د اسلام ا وطب له نظره

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پایله

ددغه بحث ترلیکلو وروسته دې نیتجې ته ورسیدو چې :

۱- داسلام سپیڅلی دین د فطرت سره موافق دی هر هغه شی چی اسلام د هغه نه منع کوی د انسان د ګټی او فوائدو لپاره ده هیڅ داسی عمل نشته چې اسلام منع کړی وی او د انسان پکی ګټه نه وی.

۲- د وخت ارزښت د اسلام له نظره خورا با ارزښته سرمایه ده چې د موسیقی او ساز او سرود تر څنګ دغه سرمایه له لاسه وځی .

۳- ساز او سرود د اسلام له نظره حرام دی په هر بالغ او مکلف انسان باندی لازم دی چې تری ډډه وکړی.

۴- ساز او سرود د انسان روح مریضوی او دهغی استحکام او قوت تری اخلي د سختیو په مقابل کې هیڅ مقاومت نشی کولی او د امتحان په وخت کې ځان بایلی.

۵- داسلامي تمدن ارزښت ښودل شو ی دی ، چې له اساسي ټکو څخه یی دنر او ښځې اختلاط ردول دی .

۶- دهغو بربنډو او بد کاره آوا زویونکو او نڅا کوونکو څخه ویره په ګوته شوی ده چې رذالت او فحشا یې آخري حدته رسیدلي دشرابو او نڅا بنډارونه یې ګرم کړي وی .

۷- **علامه ډاکتر اقبال**: په یوه ډیره لنډه جمله کې یې دغه واقعیت ته اشاره کړی وایي: دغربی تمدن اوپرمختګ روح او اساس دعفت او طهارت سره اوږد واټن لري.

۸- سازاو سرودڅخه لري اوسئ ځکه داشرم او حیا کموي ، شهوت زیاتوي ځوانمردي له منځه وړي دشرابو اثرعملا په وجود کې ټینګوي .

۹- دښځوسره دیوځاي کیناستوڅخه پرهیزوکړي ځکه داختلاط په پایله کې زنا منځته راځي.

۱۰- ساز او سرود په پایله کی ټول دنیوی او اخروی ضررونه انسان او خاصتا مسلمان ته متوجه کیږی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اخځلیکونو فهرست

١-**قرآن کريم** .

٢-**إغاثة اللهفان من مصايد الشيطان** ،المؤلف: محمد بن أبي بكر بن أيوب بن سعد شمس الدين ابن قيم الجوزية (ت ٧٥١هـ، المحقق: محمد حامد الفقي ا لناشر: مكتبة المعارف، الرياض، المملكة العربية السعودية .

٣- **انترنيتی شبکی** .( نن ټکی آسيا ) .

۴ – **اسلامی لارښود** آنلاين .

۵ – **اصلاح آنلاين** .

۶- **تلبيس إبليس** ، المؤلف: جمال الدين أبو الفرج عبد الرحمن بن علي بن محمد الجوزي (ت ٥٩٧هـ الناشر: دار الفكر للطباعة والنشر، بيرزت، لبنان الطبعة: الطبعة الأولى، ١٤٢١هـ/ ٢٠٠١.

٧- - **جامع البيان عن تأويل آي القرآن** ، المؤلف: أبو جعفر، محمد بن جرير الطبري (٢٢٤ - ٣١٠هـ توزيع: دار التربية والتراث - مكة المكرمة - ص.ب: ٧٧٨٠ الطبعة: بدون تاريخ نشر.

٨-**خطبه های اصلاحی** - تربيتی ، علامه مفتی محمد تفی عثمانی ، مترجم : محمد عمر عيدی ، سال چاپ 1369 ، نوبت چاپ : اول ، انتشارات : شيخ الاسلام احمد جام.

٩ - **الزواجرعن اقتراف الكبائر**، المؤلف: أحمد بن محمد بن علي بن حجر الهيتمي السعدي الأنصاري، الناشر: دار الفكر(شهاب الدين شيخ الإسلام، أبو العباس (ت ٩٧٤هـ، لطبعة: الأولى، ١٤٠٧هـ - ١٩٨٧م ..

(c) ketabton.com: The Digital Library



١٠-- **سنن ابن ماجه** . المؤلف: ابن ماجة أبو عبد الله محمد بن يزيد القزويني، وماجة اسم أبيه يزيد (ت ٢٧٣) تحقيق: محمد فؤاد عبد الباقي ، الناشر: دار إحياء الكتب العربية - فيصل عيسى البابي الحلبي.

١١- **سنن ابي داود** ، المؤلف: أبو داود سليمان بن الأشعث بن إسحاق بن بشير بن شداد بن عمرو الأزدي المحقق: محمد محيي الدين عبد الحميد ،الناشر: المكتبة العصرية، صيدا – بيروت.(السِّجِسْتاني (ت ٢٧٥هـ

١٢- **السنن الكبرى** ،المؤلف: أبو بكر أحمد بن الحسين بن علي البيهقي (ت ٤٥٨ هـ، المحقق: محمد عبد القادر عطاء الناشر: دار الكتب العلمية، بيروت – لبنان ، لطبعة: الثالثة، ١٤٢٤ هـ-٢٠٠٣ م.

١٣- **سلسلة الأحاديث الصحيحة وشيء من فقهها وفوائدها**، المؤلف: محمد ناصر الدين الألباني ت 1420ق ، الناشر: مكتبة المعارف للنشر والتوزيع، الرياض الطبعة: الأولى لمكتبة المعارف عدد الأجزاء: ٧ ، عام النشر جـ١ - ٤: ١٤١٥ هـ- ١٩٩٥ م.

١٤- **صحيح البخاري** ، المؤلف: أبو عبد الله، محمد بن إسماعيل بن إبراهيم بن المغيرة ابن بردزبه البخاري الجعفي ، تحقيق: جماعة من العلماء، الطبعة: السلطانية، بالمطبعة الكبرى الأميرية، ببولاق مصر، ١٣١١ هـ، بأمر السلطان عبد الحميد الثاني ثم صَوّرها بعنايته: د. محمد زهير الناصر، وطبعها الطبعة الأولى عام ١٤٢٢ هـ لدى دار طوق النجاة - بيروت، مع إثراء الهوامش بترقيم الأحاديث لمحمد فؤاد عبد الباقي، والإحالة لبعض المراجع المهمة ، عدد الأجزاء: 9.

١٥-**صحيح الجامع الصغيروزياداته**، المؤلف: أبو عبد الرحمن محمد ناصر الدين، بن الحاج نوح بن نجاتي الناشر: المكتب الإسلامي(بن آدم، الأشقودري الألباني (ت ١٤٢٠هـ..

١٦- **غذاء الألباب في شرح منظومة الآداب**، المؤلف : شمس الدين، أبو العون محمد بن أحمد بن سالم السفاريني الحنبلي (المتوفى : ١١٨٨هـ، الناشر : مؤسسة قرطبة – مصر، لطبعة : الثانية ، ١٤١٤ هـ / ١٩٩٣م.)

(c) ketabton.com: The Digital Library



١٧ -**الفتاوى العالمكيرية المعروفة بالفتاوى الهندية** . المؤلف: جماعة من العلماء ، برئاسة الشيخ: نظام الدين البرنهابوري البلخي . بأمر السلطان: محمد أورنك زيب عالمكير. الطبعة: الثانية، ١٣١٠ هـ الناشر: (المطبعة الكبرى الأميرية ببولاق مصر (وصَوّرتها دار الفكر بيروت وغيره.

١٨- **مجموع الفتاوى** ، المؤلف: شيخ الإسلام أحمد بن تيمية جمع وترتيب: عبد الرحمن بن محمد بن قاسم رحمه الله وساعده: ابنه محمد وفقه الله، الناشر: مجمع الملك فهد لطباعة المصحف الشريف - المدينة المنورة – السعودية، عام النشر: ١٤٢٥ هـ - ٢٠٠٤ م.

١٩- **المصنف في الأحاديث والآثار** ،المؤلف: أبو بكر عبد الله بن محمد بن أبي شيبة الكوفي العبسي .،تقديم وضبط: كمال يوسف الحوت ، الناشر: (دار التاج - لبنان)، (مكتبة الرشد - الرياض)، (مكتبة العلوم والحكم - المدينة المنو رة ، الطبعة: الأولى، ١٤٠٩ هـ - ١٩٨٩ م.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**